



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل

لیکوال

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل |
| لیکوال: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۸ ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ ل کال |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۱۲) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | ( ۱۲ ) |
| کمپوزر: | ضیاءالرحمن ضیاء |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيوليک


| ګڼه | سرليک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | ددې اثر دويم چاپ | ۱ |
| ۲ | سريزه | ۵ |
| ۳ | ترغميزې دمخه څوکلونو کې ښوونيز... | ۱۱ |
| ۴ | د علمي کدرونو د فرار پړاوونه: | ۲۲ |
| ۵ | لومړی پړاو | ۲۲ |
| ۶ | دويم پړاو | ۳۴ |
| ۷ | دريېم پړاو | ۴۳ |
| ۸ | څلورم پړاو | ۵۸ |
| ۹ | پنځم پړاو | ۷۳ |
| ۱۰ | د ارزښتونو کمزوري کېدل او د فرار... | ۸۳ |
| ۱۱ | د افغانستان راډيو ټلويزيون | ۹۰ |
| ۱۲ | ټولنيز- فرهنګي سازمانونه | ۹۷ |
| ۱۳ | کابل پوهنتون | ۱۰۶ |
| ۱۴ | د افغانستان علومو اکاډمي | ۱۱۱ |
| ۱۵ | پايله او څو وړانديزونه | ۱۱۳ |
| ۱۶ | اخځونه | ۱۲۵ |
| ۱۷ | د محمد اسمعيل يون لنډه پېژندنه | ۱۲۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دې اثر دويم چاپ

دا اثر ما د طالبانو د واکمنۍ د لومړيو کلونو په بهير کې ليکلى و او پر ۱۳۷۸ل کال، په پېښور کې د افغانستان د مطالعاتو مرکز له خوا چاپ شوى دى، نو ځکه خو تر ۱۳۷۸ل کال پورې د طالبانو د واکمنۍ د بهير څو لومړني کلونه هم رانغاړي. له ۱۳۵۷ل کال څخه، د دې کتاب تر ليکلو (۱۳۷۸ل کال) پورې، د هر رژيم په واکمنۍ کې افغانستان، ګڼ شمېر علمي کادرونه له لاسه ورکړي دي.

زه چې د دې ټولې غميزې په بهير کې د خپل هېواد په غېږه کې اوسېدم، نو د هېواد د نورې ويجاړۍ ترڅنګ، علمي او




فرهنګي مرکزونو ته اوښتو زيانونو ډېر زيات ځورولم، نو ځکه مې د هېواد هر ګوټ کې، چې کوم علمي او کلتوري مرکز ته زيان رسېده، ما به يادښتاوه، زما دهمدغو يادښتونو د اوډنې په نتيجه کې، دا او يو بل څېړنيز اثر (د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زيانونه) رامنځته شول.

حقيقت خو دادى، چې کله يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تولنه له ذهني پلوه زیانمنه او وپاشل شي، د هغې بیارغونه ډېره مشکله وي، فزیکي ویجاړي ببرته په مغزو جوړېږي، خو د مغزونو ویجاړي په فزیکي رغونې نه جوړېږي. ((له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل)) اثر ما د همدغه خطر د احساس له امله لیکلی او همغه وخت او اوس هم، خپل هېواد ته دا خطر احساسوم، چې له هېواده ((د مغزونو فرار)) هېواد ته څومره رنځوونکې ناروغي ده.

د وروستیو څو کلونو په بهیر کې، سره له دې چې اوس هم د هېواد په ګڼ شمېر سیمو کې تر (۲۲۵) زیات ښوونځي تړل شوي او سیزل شوي او لا هم دا لړۍ دوام لري، خو بیا هم د هیله مندۍ یوه خبره داده، چې په هېواد کې ښوونیز، روزنیز او د لوړو زده کړو مرکزونه زیات شوي او په ملیونو افغانان پر زده -کړو بوخت دي. د دې ترڅنګ یو زیات شمېر بهر مېشتي تحصیل کړي، افغانان ببرته خپل هېواد ته راستانه شوي او دلته د خپل هېواد پر ابادۍ بوخت دي، په دې ډول هغه هیله، وړاندیز او وړاندوینه، چې د دې اثر د لیکلو پر وخت، د دې اثر په وروستۍ برخه کې راغلې، یوه برخه یې هغه وخت یوازې یوه هیله وه، خو اوس عملي شوې ده. د طالبانو د حاکمیت پر مهال د هغوی پر نیمګړتیاوو څه لیکل، له خپل سر سره د لوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مانا وو. خو ما هغه وخت هم د هېواد علمي برخې او کادر ته رسېدلی زیان، تر خپله وسه بیان کړی دی.

دا چې دا کتاب تر هغې نېټې لس کاله وروسته یو ځل بیا چاپېږي، زه نه غواړم کوم خاص بدلون په کې راولم او د هغه وخت د سیاسي او ټولنیزو دردونو انځورونو ته نوی رنګ ورکړم، هره لیکنه د خپل وخت رنګ او خوند لري، پر تېر مهال، د اوسمهال رنګ ګډول، د لیکوال د هغې زمانې رسالت او مسوولیت کمرنګوي، نو ځکه زه نه غواړم خپله کلتوري ماضي بل رنګ وښیم. په دې اثر کې مې یوازې چاپي او ځینې املایي- انشایي تېروتنې تر زیاته حده سمې کړي، د اثر په محتوا کې مې هېڅ ډول ګوتې نه دي وهلي، د دې اثر په باب قضاوت لوستونکو ته پرېږدم، چې څنګه یې ارزوي. د اوسنۍ زمانې د حالاتو په اړه هم بې تفاوته نه یم، لوستونکي کولای شي د اوسمهالو پېښو انځورنې، زما په نورو کتابګوټو کې وګوري. لیکوال ته خپل اثار د خپلو اولادونو غوندې خواږه وي، خو هغه اولادونه، چې مور وپلار پرې ډېر تکلیف او ستونزې ګاللې وي، په ډېر زیار یې روزلي وي، نېک صالح هم وي او هېواد ته یې ګټه هم زیاته وي، طبعاً پر مور و پلار ډېر ګران وي. ما خپلې ټولې لیکنې د خپل زړه په وینو ټوکولي، خو ((د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه)) او بل همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثر، چې اوس ستاسو په لاس کې دی، پر ما ځکه ډېر ګران او ډېر راتـه خـوا ږه دي، چې دې کـې زمـا د هېـواد ټـول غـم او درد پــروت دی، د هېــواد د فکــري شــتمنۍ او معنــوي پــانګې اسکېرلی انځور مې همدلته خوندي دی.

چا مې له کلتور سره څه وکړل؟ چا مې کلتوري شتمنۍ لـوټ کړه؟ څه مې لرل او څه اوس نـه لـرم؟ دې ډول پوښـتنو تـه مـې تـر خپله وسه همدې اثارو کې ځواب ویلی دی. په پای کې له خپلـو ټولو هېوادوالو، د نن او له سبا چارواکو څخه، هیله کوم، چې د خپلې کلتوري شتمنۍ ساتنې، بډاینې او بیارغونې ته تـر بـل هر ډګره زیاته پاملرنه وکړي، همـدا زمـوږ د خلکـو د هوسـاینې او پرمختګ اساسي لاره چاره ده.

په همدې هیله
پوهندوی محمد اسمعیل یون
ارګ، د جمهوري ریاست ودانۍ
کابل- افغانستان
۱۳۸۷ل کال د سلواغې ۲۴مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

( ۱۳۵۷-۱۳۷۷ل ) کلونه د افغانستان د ټول تاریخ په تېره بیا د معاصر تاریخ تر ټولو بد ، ستونزمن، کرکجن، تاوجن، غمجن، زړه بوږنوونکي او خواشینوونکي کلونه دي. پر همدې کلونو ډول ډول ناتارونو او غمیزو ، د افغانانو د ژوند او د نوي عصري راټوکېدلي تمدن غوټۍ ومروړلې او د خوشالوونکو هیلو ستوني یې خپټه کړل. د ۱۳۵۷ل کال د دویمې میاشتې لومړۍ لسیزه وه، چې پر افغان ولس یو نابېره ناتار راپرېوت. د ۱۳۵۸ل کال د مرغومي پر شپږمه، په بهرني یرغل سره دا ناتار نوي او بشپړتیایي پړاو ته ورسېد. د ۱۳۶۵ل کال د غويي پر ۱۴ د ناورین په متن کې یو ډول ظاهري بدلـــــون ته اړتیا پېښه شوه. د ۱۳۷۱ل کال د غويي پر اتمې؛ د دې لويې غمیزې د پیل تر ورځې یوه ورځ وروسته په سپین رنګ کې یو بل تور ناتار زموږ پر اسکېرلي ولس وتپل شو. څلورنیم کـــالــــه دې غمیزې دوام وکړ او څه چې لــــه تېرو غمـــیزو خوندي او جوړ پاتې وو، یو په بل پسې لـــوټ او تــــالا شول او هـــر څه یې د نېستۍ پر سیند لاهـــو کړل. دې پرله پسې غمیزو همداسې غزونې وکړې او هرې خواته یې د کرکې، ورانۍ او وحشت اورونه وشیندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان او افغان ولس د دې غمیزو او ناتارونو په بهیر کې دومره وکړېدل، چې د ېر څه یې له لاسه ورکړل. مادي شتمنۍ تباه شوې، تر (۵۰۰) زیات پلونه تباه شول، په زرګونو کیلو متره پوخ سړک تباه شو، تر (۲۰۰۰) زیاتې لویې او وړې فابریکې له منځه لاړې، (۳۵۰۰) ښوونځي رنګ او وسېزل شول، د ۷ ملیونه خلکو د لوستوال کېدو مخه ونیول شوه، ۲ ملیونه کسان مهاجرت ته اړ شول، د مرکز په ګډون د هېواد تر ۳۰ زیات لوی ښارونه ځینې په نیمه او ځینې په بشپړ ډول تباه شول، یو نیم ملیون کسان ووژل شول، یونیم ملیون ټپي، معیوب او معلول شول، په لسګونو لوی، په سلګونو منځنې او شخصي کتابتونونه تباه شول، شل ملیونه ټوکه کتابونه تباه او چور شول؛ یو ملي او څو سیمه ییز موزیمونه تباه شول؛ له ۱۲۰ زرو ټوټو څخه زیات تاریخي اثار له دې موزیمونو لوټ او تالا شول؛ تر ۲۰ زرو زیاتې علمي تاریخي او هنري خطي نسخې تباه شوې؛ په زرګونو هنري اثار او تابلو ګانې وسېزل شول، په ټنونو سره او سپین زر تر هېواده بهر کړای شول؛ په ملیونونو ټنه وسپنه او په لسګونو ټنه مس په ناڅیز قیمت پر ګاونډیانو وپلورل شول، یوه دوه سوه کلنه مجربه اردو رنګه کړای شوه، په لسګونو زره دولتي او شخصي ګاډي ویجاړ، چور او وسېزل شول، عقیده یي، سیاسي او سیمه ییزو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمتي او ژبنيو رنځونو او اورونو ته لمن ووهل شوه، په هېواد کې د ملي انډول او قومي توازن د ګډوډولو لپاره هڅې وشوې؛ د سياسي واک پر مصنوعي سرچينو ګوتې ووهل شوې. د لوړو زده کړو تر (۱۴) زياتې موسسې د لږ او ډېر وخت لپاره له کاره ولوېدلې، د پوهې او پرمختګ مخې ته په قصدي او ناقصدي ډول خنډونه واچول شول، د ټولنيزو او کلتوري ارزښتونو د سپکاوي او کمزورۍ لپاره هڅې وشوې. د هېواد نړيوال حيثيت ته ستر زيانونه ورواوښتل، د چاپ او خپرونو شل لوی مرکزونه تباه شول، تر شلو زياتې راډيويي او (۷) ټلويزيوني دستګاوې په بشپړ او قسمي ډول ويجاړې شوې، د هېواد زيات او يا هم ټول وګړي له ډول ډول صحي او رواني ناروغيو، اقتصادي ستونزو او نورو ربړو سره مخامخ شول. لنډه دا چې داسې يوه غميزه پر افغانانو راغله، چې نه يې د افغانانو په تېر تاريخ کې ساری موجود و او د نړۍ په تاريخ کې به يې هم کومه انډوليزه بېلګه پيدا نه شي.

لکه چې د دې جګړې د ناورين او غميزې په بهير کې د افغانستان زياتره فرهنګي، علمي، اقتصادي مرکزونه ړنګ، ويجاړ او چور کړای شول، همداسې د هېواد پر علمي او فرهنګي کادرونو او د کار سړيو باندې هم د مرګ او درد شمال تېر شو. په زرګونو علمي کادرونه، زنداني، شکنجه او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببلابېلو پړاوونو کې، په ببلابېلو پلمو له کاره ګوښه کړای شول او نور په لسګونو زره د خپل ټاټوبي پرېښودو ته اړ شول. یو نه اټکلېدونکی شمېر تحصیل کړي افغانان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خواره شول او هېواد یې له کار او علمي تجربو څخه بې برخې شو.

زه د هېواد د فرهنګ او ابادۍ د لېوال او مینه وال په توګه د خپل ژوند له پیله بیا تر دې دمه، د خپل هېواد په غېږ کې اوسېږم، د شلو کلونو د ډول ډول حکومتونو نادودې، د خپل ولس، په ځانګړي ډول د تحصیل کړو هېوادوالو پر وړاندې د هر پړاو هغه ناوړه چلند مې په خپلو سترګو لیدلی، چې زموږ په لسګونو زره او ان په لکونو تحصیل کړي افغانان یې د هېواد پرېښودو ته اړ کړل. اوس هېواد د علمي او مسلکي کادرونو له پلوه له یوې لویې خلا سره مخ دی، هر هغه حکومت چې په راتلونکي کې د هېواد د بیا رغونې، د ژوند د خړوب او سوکالۍ لپاره څه نیتونه او هیلې لري، نو د علمي کادرونو د نشتوالي له کبله به له سختو ستونزو سره مخ شي.

په دې اثر کې تر ممکنه بریده، په لنډیز سره، په ببلابېلو پړاوونو کې د هېواد د مسلکي او علمي کادرونو، د فرار څرنګوالی او د هغو شومره والی څېړل شوی دی او د هغو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببرته راتګ پر څرنګوالي بحث شوی او په دې اړه څو وړاندیزونه شوي دي.

د یادونې وړ بولم، چې د زړه درد او خپلې ملي ولولې د دې کتابګوټي لیکلو ته هڅولی یم. د افغانستان په اوسنیو تنګو شرایطو کې د یو پوره علمي او کره اثر لیکل ناشوني ځکه ښکاري، چې د پوره سرچینو او منابعو پیدا کول خورا ګران او ان ناشوني دي، ځکه چې په هېواد کې هر څه تباه شوي دي، کله چې د علمي کادرونو د فرار د څرنګوالي په باب بحث کېږي، نو سړی مجبور دی، چې د معلوماتو لپاره همغې موسسې یا سرچینې ته مراجعه وکړي، خو په هېواد کې دا هرڅه تر زیاته بریده تباه شوي دي. اوس نو چې څوک د افغانستان هرې برخې ته د ور اړول شوي زیان په اړه څېړنه او پلټنه کوي، نو له سختو ستونزو سره به مخامخ شي او په ډېرو تیارو کې تر مزله وروسته ایله که پر دې بریالی شي، چې د یو څیز څرک پیدا کړي. زه هم له همدغې ستونزې سره مخ شوی یم، ما د هر رقم د پیداکولو لپاره څو ځله اړونده ادارو ته مراجعه کړې خو څرنګه چې زیات څه تباه شوي، د ډېرو ان د لازمو او ضروري ارقامو او مدارکو په پیداکولو بریالی نه شوم، کوم څه چې ترلاسه شول د همغو په رڼا کې مې دغه څو پاڼې لیکلې، له دې څخه هم څه ناڅه څرک لګي چې د هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرهنګ او په تېره بیا د علمي کادرونو په برخه کې څه تېر شوي او اوس څه پاتې دي؟ دلته به د ناتار او غمیزې په بهیر کې او د هغو تر پیل لږ دمخه، د هېواد د علمي او مسلکي کادرونو پر ضایعاتو خبرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تر غمیزې د مخه څو کلونو په بهیر کې ښوونیز او روزنیز بهیر ته لنډه کتنه

د ۱۳۵۷ ل کال د غويي تر ۷ نېټې د مخه څو کلونو کې زموږ ټولنه په نسبي ډول باثباته وه، همدا ثبات د دې سبب شوی و، چې یو لړ ټولنیز، فرهنګي او د ژوند په نورو برخو کې یو لړ پرمختګونه او برياوې زموږ د خلکو په برخه شي. افغانستان د مخ پر ودې هېوادونو په ډله کې په چټکۍ سره د ودې او پرمختګ پړاوونه وهل. په نړیوال، سیاسي ډګر کې د هېواد دریځ ځلنده او روښانه و. د وخت حکومت خپله زیاته پاملرنه ټولنیز پرمختګ، د ښوونې او روزنې عامېدلو او ودې ته را اړولې وه.

((کله چې پر ۱۳۵۲ ل کال جمهوریت اعلان شو، نو نوي نظام د معارف لپاره د نوي پروګرام او ریفورم جوړولو وعده ورکړه او کار پیل شو. د کمیت پر ځای کیفیت ته توجه وشوه، له همدې کبله پر ۱۳۵۲ ل کال نوي ښوونځي جوړ نه شول، خو له زړو ښوونځیو نه په بشپړ ډول کار واخیستل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ۱۳۵۱ل کال د زده کوونکو شمېره چې (۱۴۷) زره تنه وه (۱۲۰) زرو تنو ته لوړه شوه.

د معارف نوی ریفورم د ۱۳۵۳ل کال د مرغومي پر (۳۰مه) نېټه پیل شو، د دې ریفورم مهم ټکی د یو داسې پرمختللي معارف منځته راوړل و، چې د وخت افغاني ټولنې غوښتنو ته ځواب وو ایي او ځوانان په ښه ډول تنویر کړي.

د دې ریفورم له مخې لومړنۍ زده کړې، چې وړیا او اجباري وې، له شپږو کلونو نه اتو کلونو ته لوړې شوې او منځنۍ دوره تجزیه شوه، دوه ټولګي ابتدایي ته ورکړل شول، چې په دې ټولګیو کې د محیطي معلوماتو او د نظري او عملي حرفو زده کړه هم شامله وه. د اتم ټولګي فارغان ثانوي او مسلکي زده کړو ته د کانکور له مخې نیول کېدل او یوځل په کانکور کې ناکامو شویو زده کوونکو ته، په یوه بل کانکور کې هم د ګډون حق ورکول کېده.

د نوي ریفورم پر اساس ثانوي دوره څلور کلنه شوه او نهم ټولګی ساینس او اجتماعیاتو ته د چمتوالي او مسلک ټاکلو لپاره تخصیص شو. پر خصوصي لېسو د یو شمېر عمومي لېسو د بدلولو اقدام وشو، وپتېیل شوه، چې ښوونکـــــي دې لېسانس او تر هغــــه نه لــــوړه زده کـــړې ولري او ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې موسسې به د دولت په لاس کې وي او د پوهنې وزارت به ټول روزنيز فعاليتونه پرمخ بيايي.

ريفورم ژمنه کوله، چې دولت د ټولو افغانانو لپاره د زده-کړې د زمينې برابرولو مکلفيت لري او د معارف اداره به د مرکزيت پر اصل ولاړه وي. پر **۱۳۵۲**ل کال **۹۰** کليوالي او **۲۵** لومړني ښوونځي نوي جوړ شول، **۱۱۲** يو معلمه ښوونځي دوه معلمه ته، **۲۵** دوه معلمه ښوونځي درې معلمه ته او **۹۷** کليوالي ښوونځي ابتدايي ته لوړ شول؛ د لويانو **۱۹۰** کورسونه په کابل، **۴۱** په بغلان کې او **۳۴** په کوهدامن کې جوړ شول.

پر **۱۳۵۴**ل کال د معارف د نوي ريفورم له مخې **۲۹۴** د شپږو ټولګيو لرونکي لومړني ښوونځي او **۳۳** کليوالي ښوونځي اته ټولګيز شول، **۹** منځني ښوونځي پر لومړيو ښوونځيو بدل شول، د يو شمېر ښوونځيو پر پروګرامونو باندې د نوي ريفورم له مخې نوى نظر وشو.

جمهوري دولت د روزنيزو چارو د تمويل لپاره په **۱۳۵۳**-**۱۳۵۵**م کلونو کې لاندې بوديجه وټاکله:

| کلونه/ د بوديجې ډول | ۱۳۵۳ | ۱۳۵۴ | ۱۳۵۵ |
|---|---|---|---|
| عادي | ۹۱۰/۷ | ۱۱۰۰/ | ۱۴۳۰/۰ |
| انکشافي | ۷۸/۱ | ۱۳۸/۸ | ۲۳۳/۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

تول ۹۸۸/۸ ۱۲۳۸/۸
۱۶۶۳/۲

په دې دوره کې د ښوونې او روزنې ځينې مهم شاخصونه دا دي:

| کلونه/شمېر | ۱۳۵۳ | ۱۳۵۴ | ۱۳۵۵ |
|---|---|---|---|
| ۱- زده کوونکي | ۸۲۱۶۰۶ | ۸۲۲۸۸۰ | ۹۲۸۰۲۲ |
| ۲-ښوونځي | ۴۰۸۵ | ۴۰۹۸ | ۴۰۰۶ |
| الف: کليوالي ښوونځي | ۱۹۰۵ | ۱۸۸۱ | ۱۷۳۵ |
| ب: لومړني ښوونځي | ۱۴۶۸ | ۱۸۲۲ | ۱۸۷۳ |
| ج: ثانوي ښوونځي | ۷۱۲ | ۳۹۲ | ۳۹۸ |
| ۳- د ښوونکو شمېر | ۲۴۷۴۵ | ۲۴۶۶۵ | ۲۶۶۷۸ |
| الـــــف: د کليـــــوالي ښوونځيو | ۲۷۴۲ | ۱۴۰۸ | ۲۴۳۷ |
| ب: د لومړنيو ښوونځيو | ۱۴۸۷۳ | ۱۵۸۳۲ | ۱۷۹۲۰ |
| ج: د ثانوي ښوونځيو | ۷۱۷۶ | ۷۴۲۵ | ۶۳۲۱ |
| ۴- پـر يـوه ښـوونکي د زده کوونکو شمېر | ۳۳/۲۰ | ۳۵/۳۸ | ۳۵/۱۷ |
| ۵- لـه دولسـمو ټولګيـو څخه فارغان | ۱۲۸۴۸ | ۱۳۸۴۵ | ۱۴۵۶۲ |

د ثانوي ښوونځیو د شمېر په هکله د توضېح ورډه، چې پر ۱۳۵۳ل کال ۱۹۲، پر ۱۳۵۴ل کال ۱۹۷ او پر ۱۳۵۵ل کال ۱۹۹ منځني ښوونځي لېسو ته لوړ شوي دي.[1]

د (۱۹۷۵-۱۹۷۶م) کال د یوې احصائیې له مخې په افغانستان کې ۱۹۱۳ کلیوالي ښوونځي، ۱۵۱۷ لومړني ښوونځي، ۵۱۲ منځني ښوونځي، ۱۹۷ لېسې، ۱۷ مسلکي ښوونځي، ۱۰ دارالمعلمینه، ۱۹ دیني مدرسې او د لوړو زده کړو ۱۴ موسسې موجودې وې[2] د یوې بلې احصائیې له مخې پر ۱۹۷۷م کال یوازې د دارالمعلمینونو شمېر ۱۵ ته لوړ شو.

د جمهوریت په دوره کې د لوړو زده کړو وزارت بودیجه په لاندې ډول ټاکل شوې وه:

| کلونه/ د بودجې ډول: | ۱۳۵۳ | ۱۳۵۴ | ۱۳۵۵ |
|---|---|---|---|
| عادي : | ۲۱۰/۴ | ۲۱۲/۴ | ۲۴۹/۰ |
| انکشافي: | ۲/۵ | ۷۲/۸ | ۲۴۹/۷ |
| ټوله: | ۲۱۲/۸ | ۲۸۹/۱ | ۳۲۵/۷ ملیونه افغانی. |

دویم پنځه کلن پلان، د پوهنتون او پولي تخنیک لپاره ۹۰۰ ملیونه افغانۍ ټاکلې وې.

---

(۱) حبیب الله رفیع، په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې پیل او پرمختیا، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۱۰۸-۱۱۰ مخونه.

(۲) شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۲ل کال، ۷،۸ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر **۱۳۵۳**ل کال د کابل پوهنتون ټول محصلين (**۷۷۹۸**) تنه وو، چې له دې جملې څخه **۷۴۲** تنه نجونې وې او **۲۳۹** تنو استادانو درس ورکاوه.

په **۱۳۵۰-۱۳۵۲**ل کلونو کې د پوهنتونو د محصلينو شمېره:

| کلونه/څانګې: | **۱۳۵۰** | **۱۳۵۱** | **۱۳۵۲** |
|---|---|---|---|
| طب: | **۱۱۷۳** | **۱۲۰۵** | **۱۱۲۳** |
| کرنه: | **۵۵۳** | **۷۳۵** | **۲۳۵** |
| ساينس: | **۲۳۲۱** | **۲۵۹۱** | **۲۰۸۳** |
| اجتماعي علوم: | **۲۹۲۳** | **۳۳۲۴** | **۳۵۱۹** |
| دارالمعلمينونه: | **۱۴۰۵** | **۱۹۲۴** | **۱۸۱۵** |
| ټول: | **۸۴۱۵** | **۹۸۱۷** | **۹۱۷۵** |

همدا وخت په پوهنتون کې د کورنيو او بهرنيو استادانو شمېر په لاندې ډول و:

| کلونه/شمېر: | **۱۳۵۰** | **۱۳۵۱** | **۱۳۵۲** |
|---|---|---|---|
| کورني استادان: | **۹۱۰** | **۸۱۲** | **۷۲۰** |
| بهرني استادان: | **۱۹۸** | **۱۷۲** | **۱۷۱** |
| ټول: | **۱۱۰۸** | **۹۹۲** | **۸۹۲** |

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ښمېر کې ننګرهار پوهنتون، د صنعت د ادارې انستیتیوت، پولیتخنیک او عالي دارالمعلمین هم شامل دي.

د جمهوریت په دوره کې د پوهنتون د محصلینو شمېره په لاندې ډول ده:

| | | | |
|---|---|---|---|
| پر زده کړو بوخت: | | | |
| کلونه/پوهنځي: | ۱۳۵۳ | ۱۳۵۴ | ۱۳۵۵ |
| د کابل طب: | ۷۴۴ | ۸۳۰ | ۹۸۷ |
| حقوق: | ۵۲۵ | ۵۲۴ | ۴۴۷ |
| اقتصاد: | ۴۷۱ | ۵۹۵ | ۷۴۷ |
| ادبیات: | ۱۵۳۲ | ۱۰۲۰ | ۹۷۲ |
| شرعیات: | ۵۷۱ | ۲۷۲ | ۳۲۹ |
| انجنیري: | ۵۸۱ | ۲۸۱ | ۷۵۳ |
| کرنه: | ۲۸۲ | ۲۴۸ | ۷۵۲ |
| علوم: | ۹۴۵ | ۱۰۹۷ | ۱۱۰۱ |
| فارمسي: | ۲۲۳ | ۲۵۴ | ۲۸۸ |
| وترنري: | ۱۰۲ | ۱۹۸ | ۲۹۲ |
| پولیتخنیک: | ۱۱۱۷ | ۱۱۲۸ | ۱۱۵۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| د ننګرهارطب: | ۴۴۳ | ۵۴۳ | ۲۰۱ |
| ټول: | ۷۲۸۰ | ۷۸۲۴ | ۸۴۵۲ |

فارغان:

| | | | |
|---|---|---|---|
| کلونه/شمېر: | ۱۳۵۳ | ۱۳۵۴ | ۱۳۵۵ |
| دکابل طب: | ۸۰ | ۵۱ | ۵۵ |
| حقوق: | ۱۷۱ | ۱۳۲ | ۵۵ |
| اقتصاد: | ۲۸ | ۲۷ | ۴۱ |
| ادبیات: | ۳۵۵ | ۲۹۷ | ۳۰۲ |
| شرعیات: | ۴۶ | ۲۸ | ۲۲ |
| انجنیري: | ۴۲ | ۲۸ | ۲۹ |
| کرنه: | ۹۱ | ۵۹ | ۸۵ |
| علوم: | ۲۲۰ | ۲۳۰ | ۱۷۸ |
| فارمسي: | ۰ | ۰ | ۰ |
| وترنري: | | | |
| پولیتخنیک: | ۱۰۹ | ۱۴۸ | ۱۹۳ |
| ننګرهارطب: | ۳۸ | ۵۹ | ۸۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول:　　　۱۳۸۸　　　۱۱۵۷　　　۱۱۹۴[1]

تر **۱۳۵۷** ل کال د مخه افغانستان په چټکۍ سره د علمي کادرونو له پلوه موجوده خلا ډکوله، ګڼ شمېر محصلین د لوړو زده کړو لپاره د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته لېږل شوي وو. افغانستان د نړۍ له ګڼو هېوادونو سره ډیپلوماتیک اړیکي درلودل، نو ځکه خو د لوړو زده کړو په برخه کې هم د هغو هېوادونو مرسته او ملګرتوب څرګندېده. د هېواد د لوړو زده کړو موسسو په تېره بیا کابل پوهنتون د نړۍ د هېوادونو له ځینو نامتو پوهنتونونو سره علمي او د توامیت اړیکي درلودل، هر کال یې د پوهنتون استادان د نور لوړ تعلیم لپاره بهرنیو هېوادونو ته لېږل. د کابل پوهنتون د هغه وخت استادانو د تحصیل د درجې او ځای له څرنګوالي نه څرګندېږي، چې د پوهنتون د استادانو له سلو څخه تقریباً اتیا تنو له بهرنیو هېوادونو څخه خپلې ماسترۍ او دوکتوراوې راوړې دي او ځینو تر ماسترۍ ټیټ تحصیل هم په بهر کې کړی دی. هغه وخت په هېواد کې د ټولنیز ژوند کچه هم دومره لوړه وه، چې د نړۍ د یو شمېر هېوادونو په

[1] حبیب الله رفیع، په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې پیل او پرمختیا، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۱۱۲-۱۱۷مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انډول زمونږ هېواد د تحصیل کړو اشخاصو لپاره خپله ټولنه یوه نسبتاً سوکاله ټولنه ګڼل کېده. تعلیم او تحصیل خپل مادي ملاتړ او مادي ارزښت درلود ، د هر چا ټولنیز موقف څرګند و ، هر چا خپله ټولنه کې خپل ځان احساسولای شو ، ځکه خو اکثرو او ان ټولو افغانانو ، چې په دې موده کې په بهر کې لوړې زده کړې کړې وې ځوک هم په هغو هېوادونو کې پاتې شوي نه دي او بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي او پر دندو یې پیل کړی دی. هغه وخت د افغانستان اقتصادي کچه دومره وه، چې یو تحصیل کړي شخص او په تېره بیا د پوهنتون استاد پرې له هر پلوه خپل ژوند خړوب کړی وای. د کابل پوهنتون یو استاد د هغه وخت د استادانو اقتصادي حالت په باب وایي: (( هغه وخت کې یې مونږ ته دومره معاش راکاوه او په افغانیو کې دومره قوت موجود و ، چې ما د خپل معاش او حق الزحمو له پیسو نه دومره سپما وکړه، چې په پروان کارته کې مې پرې یو پوخ دوه منزله کور جوړ کړ )).

د علمي کادرونو د تقرر په برخه کې هم له انصافه کار اخیستل کېده، له ځینو مهمو حساسو سیاسي او اداري پوستونو پرته، په مسلکي، تخنیکي او علمي پوستونو کې اکثره د خپل مسلک خاوندان مقرر وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هېوا د څخه د مسلکي کادرونو فرار، هغه هم په ډله ییز ډول هېڅ په خوب او خیال کې هم نه راته. په ټولیز ډول دا دوره د افغانستان د علمي کادرونو د روزنې، پالنې او په خپلو ځانګو کې د ګومارنې ډېره ښه دوره ګڼل کېدی شي، ضایعات هېڅ نه وو او د نویو کادرونو د روزنې کار هم په چټکۍ سره روان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د علمي کادرونو د فرار پړاوونه

## لومړی پړاو

## (۱۳۵۷ غویی- ۱۳۵۸ مرغومی)

د افغانستان د اوسنی غمیزې د پیل لومړی ورځ د ۱۳۵۷ل کال د غویي ۷نېټه ده. پر همدې ورځ په افغانستان کې جمهوري نظام ړنګ او پرځای یې د یو ګوند یانې د ((خلکو دموکراتیک ګوند)) واکمني رامنځته شوه. څرنګه چې د واک بدلون د یو پوځي عمل په نتیجه کې ترسره شوی و، نو په همغه پیل کې یې وینه تویه شوه او نوي واکمن د نورو په وینو رنګ توري سره ارګ ته ننوتل او د واک پر ګدۍ کېناستل. له دې سره جوخت لومړی ذهني او بیا وروسته، سیاسي پوځي ګډوډي جوړه شوه او ورو ورو یې د هېواد د سیاسي او ټولنیز ژوند ټول رګونه ونیول. دا موده په افغانستان کې د افکارو له مخې پر متضادو خواوو د ټولنې د وېشنې نبه ګرم او لومړی پړاو دی. نوي واکمن چې جوړ دولتي جوړښت او امکانات یې ترلاسه کړي وو، تر هر څه لومړی په دې لټه کې شول، چې خپل ذهني، سیاسي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی په نومونه ((عقیده یي)) دښمنان وځپي، نو ځکه یې تر هر څه لومړی له خپلو ((مخالفینو)) څخه د دولتي دستګاه ((تصفیې)) ته ملا وتړله. هغه وخت داسې انګېرل کېدله، هر څوک چې د واکمن ګوند غړیتوب ونه لري او یا د هغوی سیاسي تګلار ونه مني هغه نو په اصطلاح ((انقلابي))، ((مترقي)) او ((هېواد پال)) نه دی او ((ارتجاعي)) خصلت لري. د دې بهیر لومړی ګوزار په دولتي دستګاه کې همغو اشخاصو او یا هم علمي کادرونو ته متوجه و، چې په دولتي جوړښت کې یې کار کاوه، خو له واکمن ګوند سره یې ذهني او فکري تړاو نه درلود. واکمن ګوند همداسې کسانو پسې اور لړونی راواخیست، ګڼ شمېر یې زنداني کړل، ځینې یې له دولتي او مسلکي پوستونو څخه ګوښه کړل او ځینې یې مهاجرت او فرار ته اړ کړل. د دولتي دستګاه د ملکي برخې ترڅنګ یې په پوځ کې هم دې چار ته دوام ورکړ او د ((خلقي پوځ)) د جوړولو تر سرلیک لاندې د پوځ بې شمېره روزل شوي، فني او مسلکي کادرونه، یا په مرګ محکوم شول، یا زندان ته واچول شول، یا فراري شول او یا هم له خپلو مناسبو پوستونو څخه ګوښه کړای شول. په دولت کې پر هغـــو علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسسو هم دا حال راغی، چې سیاست سره یې چندان تړاو نه درلود؛ یوازې فرهنګي او علمي چارې یې سمبالولې.

په دې واټن کې د افغانستان ډېر نامتو علمي کادرونه او لیکوال تر خاورو لاندې شول. پخوانی صدراعظم موسی شفیق، یوسف مېړنی، سېلاب ساپی او نور یې په سلګونو بېلګې دي. د هغو زرګونو افغانانو لست، چې د ۱۳۵۸ل کال د سنبلې تر ۲۵ نېټې وروسته خپور شو په هغه کې د وژل شویو او لادرکو کسانو له نومونو څخه ترګند ېږي چې ګڼ شمېر علمي کادرونه، پوځي تکړه افسران، د قوم مخور او نور پوه افغانان، د ژوند له نعمت نه محروم شوي دي.

همدې موده کې یوازې د کابل پوهنتون د ۲۰۰ تنو استادانو له جملې څخه ۲۵ تنه استادان تلف شوي دي، چې دا پر هغه مهال د پوهنتون د استادانو تقریباً ۱۱ فیصده کېږي. یوازې د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي څخه دوکتور شجاعي، محمد علـــم، خانباز تنېوال، امیرمحمد مومند او خان اباد وزیري، د واکمنو له خوا ونیول شول او لادرک شول.

څرنګه چې واکمن ګوند ته یو روغ دولت او حکومتي امکـــــانات په لاس ورغلي وو، نو دوی کولای شول له هغـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه د خپلو موخو ، فکري او فزيکي زورواکۍ لپاره هر ډول ګټه پورته کړي. په دې پړاو کې فکري اختناق داسې پړاو ته رسېدلی و ، چې هېڅ د هېڅ خبرې او نظر څرګندولو حق نه درلود. هره سياسي او ټولنيزه خبره په بل ډول تعبيرېدلای شوه او د يو شخص يا علمي کادر د زنداني کولو لپاره يوه وړه پلمه او خبره هم بس وه. په دې پړاو کې ښوونځي، پوهنځي، علمي، توليدي او ټول دولتي مرکزونه د واکمن ګوند تر کنټرول لاندې وو او ټول هېواد لا د سراسري پاڅون پر اورني ډګر نه و بدل شوی. واکمنو کولای شول ان په کليوالي سيمو او بانډو کې هم د خپل ځواک اسونه وځغلوي، له ملي شتمنيو او لاسته راوړنو څخه هم د خپل مقصد لپاره کار واخلي. د راوروسته کلونو په انډول په دې واټن کې دولتي جوړښت روغ او سلامت پاتې و ، ځکه چې د کړکېچ د پيل کلونه وو. پر **۱۳۵۸**ل کال د هېواد ټول استوګن نفوس**۱۳۰۵۱**زره تنه اټکل شوی دی. په دې کې هغه کسان چې د کار لپاره مستعد دي(**۱۵-۵۹** ) کلن دي **۲۳۳۳**زره تنه ښودل شوي او د اقتصادي چارو او ګټې لپاره فعاله (بشري قوه ) **۴۹۵۰** زره تنه اټکل شوي. په اقتصادي چارو کې د مصروفو فعالو کسانو شمېر **۴۵۹۱** زره تنه ښودل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی، چې له دې جملې څخه په تولیدي برخه کې **۴۰۷۳** زره تنه او په ناتولیدي برخه کې **۵۱۸** زره تنه بنودل شوي دي.[۱]

دغه راز پر **۱۳۵۷**ل کال ملي ناخالص محصول، چې ګټه ورڅخه پورته شوې ده (**۱۵۹،۱**) ملیارده افغانۍ او تولید شوی داخلي ناخالص محصول (**۱۴۲،۹**) ملیارده افغانۍ و[۲] د یادونې وړ ده، چې پر دې وخت افغانۍ **خپل** ارزښت درلود او یو امریکایي ډالر تقریباً په **۵۰** افغانۍ تبادله کېده.

پر **۱۳۵۷**ل کال هغه ملي عاید چې ګټه ورڅخه پورته شوې (**۱۱۱،۷**) ملیارده افغانۍ، داخلي تولید شوی عاید (**۹۵،۵**) ملیارده افغانۍ و[۳] پر دې کال د مالدارۍ محصولات د غوښې له پلوه (**۱۹۵**) زره ټنه، د شیدو له پلوه (**۷۹۲**) زره ټنه، د وړیو له پلوه (**۲۲،۷**) زره ټنه و.[۴] پر دې کال د دولتي او مختلط سکتور د صنایعو د تولیداتو ارزښت **۱۳۴۳۲،۵** ملیونه افغانۍ و[۵].

---

[۱] ګزیدهٔ شاخصهای احصائیوی، د احصائیې وزارت د نشراتو ریاست، کابل ۱۳۷۰ل کال، ۸مخ.
[۲] همدا اثر ۹ مخ.
(۳) همدا اثر ۱۱ مخ
[۴] همدا اثر ۲۰ مخ.
[۵] همدا اثر ۲۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خصوصي سکتور د صنايعو د توليداتو ارزښت مجموعاً ۴۱۴۴،۰ مليونه افغانۍ و. د ترانسپورت په برخه کې بايد سړی ووايي، چې ۲۲،۱ زره عرادې لارۍ، ۱۲،۳ زره بسونه، ۳۰،۷ زره ګړندي ګاډي او ۹،۵ زره ټکسي موټرونه موجود وو.(۱)

پر ۱۳۵۷ل کال د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ حجم ۷۴۷ مليونه ډالره و، له بهر څخه د راوړل شويو شيانو ارزښت ۲۸۱،۴ مليونه ډالره و.(۲) د نقدي وارداتو ارزښت ۴۲۰ مليونه ډالره و.(۳)

د دې ارقامو له يادونې څخه مقصد دا و چې په ۱۳۵۷-۱۳۵۸ کلونو کې دولتي دستګاه جوړه پاتې وه او لا هم هېواد له نورې نړۍ څخه په بشپړ ډول بېل شوی نه و. له فکري اختناق، جبر او نورو ډول ډول ظلمونو سره سره د ژوند اقتصادي خوا ډېره کمزورې نه وه، خو ورو ورو د کمزورۍ خواته روانه وه. همدغو امکاناتو واکمنو ته د دې وس ورکړی و چې د هېواد په اکثرو سيمو کې د خپلو ذهني مخالفينو او يا هم د څنګزنو اشخاصو، په تېره بيا د تحصيل کړو او علمي کادرونو حرکتونه وڅاري، يا يې زنداني کړي او يا يې په مرګ

---

(۱) ګزيدۀ شاخصهای احصائيوی، ۳۰-۳۳ مخونه.
(۲) همدا اثر ۳۵-۳۲ مخونه.
(۳) همدا اثر ۴۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکوم کړي. د هغه وخت واکمنو ښوونې او روزنې ته له خپل اندود سره سمه پاملرنه کوله. ځینې نوي ښوونځي او علمي مرکزونه هم جوړ شول، خو په ټولو کې د واکمن ګوند تګلاره عملي کېدله.

پر ۱۳۵۷ل کال د ټول هېواد په کچه د ښوونځیو، د سواد د زده کړو او د لوړو زده کړو د موسسو شومره والی په لاندې ډول و:

| | |
|---|---|
| د ښوونځیو شمېر: | ۳۸۴۳ |
| له هغو څخه: | |
| لومړني ښوونځي | ۳۵۳۰ |
| منځني ښوونځي-لېسې | ۳۱۳ |
| د زده کوونکو شمېر | ۱۰۳۴ زره تنه |
| له دې څخه: | |
| په لومړنیو ښوونځیو کې | ۹۴۲زره تنه |
| منځینو ښوونځیو-لېسو کې | ۹۲زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۵۲،۳زره تنه |
| له دې څخه: | |
| لومړني ښوونځي: | ۳۹،۸ زره تنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| منځني ښوونځي-لیسې: | ۱۲،۵ زره تنه |
| د ښوونکو شمېر: | ۳۵،۰ زره تنه |
| په دې کې د ښځینه ښوونکو شمېر | ۵،۸ زره تنه |

د سواد د زده کړې کورسونه۷،۱۵ زره

| | |
|---|---|
| د کورسونو شاملین | ۵۲۲،۷ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۷،۸ زره تنه |
| د ښوونکو او سوپروېزرانو شمېر | ۱۳،۸ زره تنه |

## د لوړو زده کړو ځومره والی:

| | |
|---|---|
| د لوړو زده کړو د موسسو شمېر | ۳ |
| د پوهنځیو شمېر | ۱۸ |
| د ټولو محصلینو شمېر | ۱۱،۳ زره تنه |
| د شاملانو شمېر | ۴،۷ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۵۵۳ |
| د ټولو استادانو شمېر | ۹۹۲ تنه |
| له دې جملې ښځه بهرنیان | ۱۷۵ تنه |

د منځنیو مسلکي او حرفه یي ښوونځیو شمېر ۴۴

| | |
|---|---|
| د محصلینو شمېر | ۱۲۰،۷ زره تنه |
| د شاملانو شمېر | ۵،۴ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۵۹۵ تنه |
| د ښوونکو شمېر | ۹۹۸ تنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| له دې جملې څخه بهرني ښوونکي | ۲۰ تنه |
| د تخنيکومونو شمېر | ۲ |
| د محصلينو شمېر | ۱۷۰۲ تنه |
| د لومړي کال محصلينو شمېر | ۴۵۳ تنه |
| د فارغانو شمېر | ۲۰۴ تنه |
| د استادانو شمېر | ۱۹۰ تنه |
| له دې جملې نه بهرنيان | ۸۵ تنه |
| د ښوونکي دروزنې د موسسو شمېر | ۱۴ |
| د ټول محصلينو شمېر | ۲،۴ زره تنه |
| د لومړي کال شاملان | ۲،۷ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۲۴۲۱ تنه |
| د استادانو شمېر | ۳۷۰ تنه[1] |

په دې واټن کې لکه د ټولنې د نورو برخو په څېر په علمي او کلتوري مرکزونو کې هم سخت فکري اختناق او ايډيولوژيکه زوروا کې موجوده وه. هغه کسان چې د يو فکر او نظر په ځانګړي ډول د ملي او اسلامي اند ښتنان وو، تر

[1] ګزيده شاخصهای احصائيوي ۱۳۷۰ ل کال، د احصائيې وزارت، کابل، ۵۵-۵۸ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل هر چا يې د زياتې وېرې احساس کاوه. هغه وشوه چې په روزنيزو او تحصيلي موسسو کې په نصاب کې بدلون راوستل شي. د سياست په نوم يو مضمون په درسي نصاب کې ځای کړای شو او لږ تر لږه دوه ورځې د يوه ساعت لپاره تر شپږمو پورته ټولګيو کې تدريسېده. د زده کوونکو او محصلينو د درسي پروګرام د ياد وړ برخه دې مضمون او د دې تر څنګ ګڼو مارشونو او سياسي غونډو نيوله. په درسي چارو او نورو برخو کې د ګوندي لومړنيو سازمانونو لاسوهنه او ټولواکي هم د دې سبب شوه، چې واکمن ګوند او د علمي کادرونو ترمنځ د واټن، تضاد او دښمنۍ امکانات برابر شي. واکمنو هم د خپلې ايډيولوژۍ پر وړاندې هېڅوک او هېڅ شی نه شو زغملای، ځکه خو به يې غوڅ عمل ترسره کاوه.

د همدې وژنو، ترټنو، زندۍ کولو او فکري بحران او فشار له امله ګڼ شمېر هېوادوال د خپل ټاټوبي پرېښودلو ته مجبور شول. يوازې د ۱۳۵۷ل کال په بهير کې د پاکستان د راډيو په وينا ۵۰ زره افغانان پاکستان ته مهاجر شوي وو. د ۱۳۵۸ل کال تر مرغومي پورې په اټکلي ډول د دې کسانو شمېر تر ۱۴۰ زره تنو پورې ورسېده. په دې شمېر کې د عامو ولسي، مذهبي کسانو او د هغوی د کورنيو د ځينو غړو په ګډون د هېواد ګڼ شمېر علمي کادرونه او تحصيل کړي اشخاص هم شامل وو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیاتو علمي او پوهو کسانو اټکل ځکه کېدی شي، چې تر هر چا لومړی دوی ته زیان ګوابښ او خطر متوجه و. که د افغانستان د لوستي قشر منځنی کچ په پام کې ونیول شي یانې په سلو کې (۵-۷) تنو پورې، نو په ۱۴۰ زرو تنو کې به اټکل لس زره تنه لوستي کسان په دې موده کې پاکستان ته ور اوښتي وي او که بیا له هرو لسو لوستو کسانو څخه یو تن د لوړو زده کړو خاوند وګڼل شي نو په دې بهیر کې به اټکل یوزر تنه د لوړو زده کړو څښتنان د هېواد پرېښودو ته اړ شوي وي. په پوځ کې د بغاوتونو، په دولتي دستګاه کې د نارضایتیو او په خپله د واکمنو د زورواکیو له امله به تر دې هم زیات تحصیل کړي اشخاص د هېواد په دننه کې، زنداني، وژل شوي او یا هم تري تم شوي وي. که د کابل پوهنتون د تلف شویو استادانو او علمي کادرونو احصائیه د یو منځني حد او معیار په توګه په پام کې ونیول شي، نو لږ تر لږه به هر علمي مرکز په سلو کې لسمه برخه علمي پرسونل له لاسه ورکړی وي. د دې ترڅنګ په دولتي جوړښت کې له خپلو مناسبو پوستونو څخه د مسلکي کادرونو ګوښه کول او یا د هغو دواک سلبول او د هغو پرځای د نویو کسانو ټاکل هغه بل ناوړه عمل و، چې د هېواد مسلکي کادرونو ته یې د فرار لارې چارې برابرې کړې او ځینې یې له خپل مسلک څخه لرې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د دې پېر د واکمنو پر وړاندې د مختلفو مذهبي ډلګیو په مشرۍ وسلواله مبارزه پیل شوه، نو هغوی هم د علمي کادرونو، په ځانګړي ډول د ښوونکو پر وژلو، سپکولو او د ښوونځیو پر رنګولو او سوځولو صرفه ونه کړه، ګڼ شمېر ښوونکي یې ووژل او ځینې نور یې له کلیو نه ښارونو او یا هم بهر ته فرار کړل.

(۱۳۵۷-۱۳۵۸ل کلونه) واټن په هېواد کې د ډله ییزو وژنو، زنداني کولو او ((فکري تصفیې)) او په ډله ییز ډول په هېواد کې د علمي کادرونو د وژنې او فرار د پیل موده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم پړاو

## (۱۳۵۸ مرغومی - ۱۳۶۵ غویی)

د ۱۳۵۸ل کال د مرغومي پر ۶ مه نېټه پر افغانستان باندې پیل شوې غمیزه د نویو واکمنو په نومونه: ((تکاملي او بشپړتیایي پړاو)) ته ورسېد. پخواني شوروي اتحاد پر افغانستان مستقیم پوځي یرغل وکړ او خپل لاسپوڅي یې د کابل پر واک واکمن کړل. له دې سره جوخت د پردیو او د هغو د کورنیو پلویانو پر وړاندې سراسري ملي او اسلامي پاڅون پیل شو، ورسره له هېواده د ډله ییز مهاجرت لړۍ په ډېرې چټکۍ سره پیل شوه. روسانو پر لویو ښارونو خپل واک ټینګ کړ، خو پر کلیوالو سیمو لاسبري نه شول، ځکه نو په لومړي سر کې په کلیوالو سیمو، له ښار نه په لرې پرتو او غرنیو سیمو کې توده جګړه پیل شوه. د جګړې په ترڅ کې بې شمېره کورونه وران او په لکونو افغانان مهاجرت او مبارزې ته اړ شول، هغه ښوونځي، روزنځي او د زده کړو نور مرکزونه چې له لویو ښارونو څخه بهر وو، یا د جګړو په ترڅ کې تباه شول او یا هم د نویو واکمنو د مخالفینو له خوا د دولتي ملکیت تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلمې لاندې رنګ، چور او وسېزل شول. نویو واکمنو د کورونو په رنګولو او بمبارۍ او مخالفینو د ښوونځیو په رنګولو کې خپل ټول وس چار پر کار واچوه.

د یوې احصائیې له مخې تر ۱۹۸۲م کال پورې یوازې پاکستان او ایران ته په ترتیب سره (۲،۷۰۰،۰۰۰) او (۲،۰۰۰،۰۰۰) تنه افغانان مهاجر شوي دي.[۱] او نور ځینو نورو هېوادونو ته تللي دي. دا تقریباً پنځه ملیونه افغانان دي. که چېرې په دې افغانانو کې مورږ د افغانستان د هغه وخت د لوستي قشر هغه ډېره کمه کچه هم په پام کې ونیسو نو لږ تر لږه به د پنځه ملیونو مهاجرو په منځ کې (۲۵۰۰۰۰) تنه لوستي افغانان شامل وي. له دې رقم څخه د لوړو زده کړو د خاوندانو شمېر هم په انګلیزډول څرګندېدی شي. پر دې وخت نه یوازې دا چې د پردیو او د هغو د ملګرو پر وړاندې په کلیوالي سیمو کې زیات غبرګون موجود و، بلکې د ښارونو په لویو فرهنګي او اکاډمیکو مرکزونو کې هم د هغو پر ضد څرګندې او ناڅرګندې هڅې موجودې وې. روڼ اندو او هېواد پالو تحصیل کړو افغانانو د پردیو سیاسي او پوځي واکمنۍ نه شوه زغملای، نو ځکه خو یې د هغوی پر ضد یا له جهادي لیکو سره اړیکي ټینګول او یا خپلو ملي ولولو، په ځاني او

[۱] Afghan Refugee Bulletin, UNHCR, Febaruary ۱۹۹۹, Page ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډله ييز ډول مبارزو ته هڅول. روسانو او نوو واکمنو هم په ډېر دقت سره د هغوی هر ډول عمل څاره او هغوی يې په ډېره زوروا کۍ سره له منځه وړل. په دې پړاو کې هم د هېواد بې شمېره تحصيل کړي اشخاص د زندان تورو کوټو ته دننه کړای شول، ګڼ شمېر يې له خپلو مسلکي دندو څخه ګوښه شول او يو زيات شمېر يې مهاجرت ته اړ شول.

په دې دوره کې بل کار دا وشو، چې د هېواد تحصيل کړی قشر پر دوو متضادو لارو ووېشل شو، يو هغه چې د دولت په چوکاټ کې پاتې شو او له نوي نظام سره يې فکري او رواني اړخ ولګولای شو او بل هغه چې دا تګلاره يې غندله او د هغې پر ضد يې مبارزه کوله. پر دې وخت د افغانستان د تحصيل کړي قشر زياته فکري انرژي په ګړني او ليکني ډول، د مخالفو فکري تګلورو په تبليغ او ترويج کې مصرفېدله، په حقيقت کې سياسي فضا پر مسلکي تشبث او پلټنو خپله خپسه کېنولې وه او د اکثرو مسلکي او علمي کادرونو انرژي له دغو دوو لورو نه، په يوه کې مصرفېدله. سره له دې چې په عام ډول ټول هېواد کې جګړه روانه وه، خو بيا هم واکمنو هڅه کوله، چې په ښارونو کې ژوند په نورماله بڼه دوام ومومي، ځکه خو يې اکثره ښوونځي، پوهنځي، روزنيز او علمي مرکزونه فعال ساتلي وو او په ځينو برخو کې يې د پراختيا هڅه کوله. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښارونو کې د دولت دستګاه تقریباً روغه پاتې وه. په ۱۳۶۰ل کال د ټول دولت په ملکي برخه کې د مامورینو شمېر (۸۰۹۸۰) تنو او د اجیرانو شمېر (۹۱۰۱۲) تنو ته رسېده[۱]. چې د ملکي برخې د ټولو کارکوونکیو شمېر ۱۷۱۹۹۲ تنو ته رسېده.

په ۱۳۶۱ل کال یوازې د کابل ښار د لومړنیو ښوونځیو د زده کوونکیو شمېر ۱۷۷۷۷۳ تنه وو، چې د ۵۷۲۰ تنو ښوونکو له خوا ورته درس ورکول کېده. د منځنیو ښوونځیو د زده کوونکیو شمېر ۸۸۶۰۲ تنه وو، چې د درس چارې یې د ۳۱۱۲ تنو ښوونکو له خوا پرمخ وړل کېدې.[۲]

په همدې کال یوازې د هېواد د سرو سیمو په ښوونځیو کې ۳۵۸۹۲ تنه زده کوونکي، لومړي ټولګي ته جذب شوي وو.[۳]

په ۱۳۵۹ل کال د کابل پوهنتون د محصلینو شمېره ۸۸۴۲ تنه وه چې ۳۴۵۲ تنه نوي شامل شوي وو او ۱۹۸ تنه یې فارغان درلودل.

کابل پولیتخنیک ټول ۱۲۳۹ تنه محصلین درلودل، ۱۳۶۱ شاملین او ۲۳۶ تنه فارغان.

---

[۱] حقایق تاریخی و ارقام احصائیوی درباره ء کابل، د احصائیې مرکزي اداره، ۱۳۶۲ل کال، ۹۳ مخ.

[۲] همدا اثر، ۲۲-۲۳ مخونه.

[۳] د افغانستان کالنۍ، ۱۳۶۱ل کال، ۲۱۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طب د عالي زده کړو انستیتیوت، د کابل د طب انستیتیوټ په ګډون: **۱۹۰۵** تنه شاګردان، **۵۱۳** تنه شاملین او **۵۲** تنه فارغان درلودل.

پر **۱۳۶۰**ل کال د کابل پوهنتون د ټولو محصلینو شمېر **۷۲۹۷** تنه، د نویو شاملینو **۲۰۵۵** تنه او د فارغانو شمېر یې **۱۲۳۶** تنه وو، د کابل پولیتخنیک انستیتیوټ پر همدې کال، **۱۷۷۶** تنه شاګردان، **۴۰۱** تنه نوي شاملین او **۲۳۴** تنه فارغا درلودل. د طب د لوړو زده کړو او کابل طب انستیتیوټ **۲۰۶۲** تنه شاګردان درلودل، **۱۳۶۵** تنه یې نوي شاملین او **۸۱** تنه یې فارغان درلودل.[1]

د یو بل رقم له مخې په مجموعي ډول پر **۱۳۶۱**ل کال د لوړو زده کړو د درېو موسسو (کابل پوهنتون، کابل پولیتخنیک او ننګرهار پوهنتون د ټولو محصلینو شمېر (**۱۰۹۳۶**) تنه چې له هغې جملې ځخه (**۴۱۴۵** ) تنه نوي محصلین وو. همدارنګه د لوړو زده کړو ( د اداري او حسابدارۍ ) او (کرنې) په موسسو کې (**۷۵۲**) تنه محصلین وو، چې له هغې جملې ځخه ( **۲۴۹** ) تنه نوي شاملان وو.د تخنیکم د محصلینو شمېر (**۱۰۳۲**) تنه، چې له هغې جملې نه (**۴۲۸** ) تنه نوي محصلین وو او همدارنګه

[1] حقایق تاریخی و ارقام احصائیوی درباره‌ء کابل، ۲۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تخنیکي حرفه یي لومړي نمبر ښوونځي شاملان (**۷۷**) تنه وو.[1]

**۱۳۵۸-۱۳۶۵** کلونو په هېواد کې له ګرمې جګړې سره سره، په ښارونو، په تېره بیا په لویو ښارونو کې د ښوونې او روزنې بهیر درول شوی نه و، البته پر ټولو فرهنګي، علمي او روزنیز مرکزونو، د واکمنو د فکري تګلارې سیوری خپور شوی و. د لوړو زده کړو موسساتو په هر ټولګي کې د ټولنپوهنې په نامه یو مضمون جبري و، ګوندي سازمانونو د علمي مرکزونو په اداري او علمي چارو کې د لاسوهنې او د کارونو بدلون پوره واک درلود.

ګوندي غونډو، مارشونو او میټینګونو، د روزنیزو، ښوونیزو او فرهنګي مرکزونو زیات وخت اخلالاوه، واکمن ګوند ته ژمن اشخاص، که څه هم پوره علمي واک یې نه درلود، خو د عملي مرکزونو د اداري چارو لپاره ګومارل کېدل. د لوړو زده کړو، پوهنتونونو او بهر ته په تحصیلي بورسونو کې د تګ په مساله کې، واکمنۍ سره د تړاو او نږدېوالي معیار په پوره ډول په پام کې نیول کېده.

د ښوونې او روزنې وزارت د لوړ کچ د یو کارکوونکي د وینا له مخې د **۱۳۵۷-۱۳۶۵** کلونو په واټن کې تر (**۴۵**) زرو تنو

---

[1] د افغانستان کالنۍ، کابل ۱۳۶۱ل کال، ۳۷۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات افغانان، د وخت له حکومت سره دوستو هېوادونو په ځانګړي ډول ((شوروي اتحاد)) ته تللي دي. د دې کسانو د ياد وړ شمېر تر تحصيل وروسته د څو کلونو په بهير کې بېرته هېواد ته راستون شو او ځينې يې لا په لوړو، مهمو او حساسو دولتي پوستونو کې وګومارل شول، خو په دې وخت کې هم يو شمېر هغه افغانان چې بهر ته د لوړو زده کړو لپاره تللي وو، بېرته راستانه نه شول.

له هېواد څخه د علمي کادرونو په مهاجرت کې کمې رانغی او لاهم په هېواد کې هغه لاملونه، چې د علمي کادرونو د فرار سبب کېدل، پر ځای وو. د بهرنيو يرغلګرو مستقيم واک او فشار، سياسي او فکري اختناق، د ژوند نه تضمين، د مسلکي معيار بې ارزښتي، وژنه، ترور او زنداني کول هغه عوامل وو، چې له هېواده د مسلکي کادرونو د وتلو سبب ګرځېدل. په دې واټن کې د فرار ستر لاملونه سياسي، فکري او عقيده يي وو. اقتصادي ستونزو په کې دومره اغېز نه درلود.

په دې بهير کې دولت هر کال د لوړو زده کړو په برخه کې، په بهر کې د تحصيل کوونکو افغانانو پر شمېر سربېره په منځني ډول ۲۰۰ تنه فارغان پوهنتون ته ورانديز کول. خو له هېواد څخه د تلونکو هغو افغانانو شمېر په دقيق ډول څرګند نه دی، چې

لوړې زده کړې يې لرلې، يوازې د کابل پوهنتون ۱۰۰ تنو څخه زيات استادانو، پر هغه وخت خپله دنده خوشې کړې ده.

پر دولتي اختناق، جبر او پردي ښکېلاک د دولت مخالفينو هم، په هېواد کې د علمي کادرونو، په ځانګړي ډول، د ښوونکيو پر وژنې صرفه ونه کړه.

((يوازې د معارف په برخه کې تر (۱۳۵۷-۱۳۶۲) پورې ۲۰۰۰ څخه زيات ښوونکي وژل شوي دي))[1] چې اکثره يې د مخالفو کسانو له خوا وژل شوي دي.

غوره بېلګه يې پر همدې وخت د لغمان ولايت د الينګار په ولسوالۍ کې د ۹ تنو ښوونکو ډله ييزه وژنه ده چې د يو جهادي تنظيم له خوا وشوه. دا ښوونکي په ډېر دردوونکي ډول، د غره په يوه سمڅه کې ووژل شول او تر درې مياشتو وروسته يې خپلوانو مړي پيدا کړل.

((همدا راز په همدې واټن کې ۱۸۵۰ ښوونځي ړنګ او د هغو دوه سوه زره مېزونه او څوکۍ سېزل شوي دي.

ښوونځيو کې دماشومانو د داخلولو په شمېر کې په سلو کې ۴۰ کمی راغلی دی. دغه راز پر همدې وخت ۱۱۴ روغتيايي مرکزونه او ۲۸ روغتونونه هم تخريب شوي دي)).[1]

---

[1] پوهنمل دوکتور نجيب الله فايز، اجتماعی علوم مجله، کابل پوهنتون، ۱۳۲۸ل کال، ۱۹۱-۱۹۸ مخونه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

[۲] پوهنمل دوکتور نجیب الله فایز، اجتماعي علوم مجله، کابل پوهنتون، ۱۳۶۸ل کال، ۱۹۱-۱۹۸ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم پړاو

## (۱۳۶۵ غویی- ۱۳۷۱ غویی)

پـر **۱۳۶۵**ل کـال، پـر افغانسـتان نړیوالـو فشـارونو او پـه افغانستان کې دننه ګرمو وسله والو جګړو، بهرني یرغلګر دې ته اړ کړل، چې د کابل رژیم په مشرتابه کې بدلون راولي او خپله ورو ورو له افغانستان څخه پښې سپکې کړي. د **۱۳۶۵**ل کال د غويي پر ۱۴ نېټه دا بدلون راوستل شو. له نوي بدلون سره په دولتي ادارو او نورو علمي مرکزنو کې د هغه اختناق او فشار بار ورو ورو کم شو، چې له اتو کلونو راهیسې هلته واکمن و. د دې فشار د کمېدو یو اساسي علت دا و، چې بهرني یرغلګر او کورني واکمن لړ شان پر دې پوه شوي وو، چې یوازې د برچې په څوکه د خلکو د افکارو، عقایدو او نظریو وژنه امکان نه لري. د حکومت زیاته پاملرنه د مخالفینو له خوا، فزیکي خطر او جګړې ته متوجه وه، د دولت پر ضد ګړنې او ان لیکنې تبلیغ ته دومره په قهرجنه سترګه نه کتل کېدل. په ځانګړي ډول په وروستیو کلونو کې. د دولت فزیکي ځواک ورځ پر ورځ کمزوری کېده. جګړه له کلیو، غرونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندېو څخه د لويو ښارونو ترڅنډو او پر هغو باندې د مستقيم فشار راوستلو تر بريده راورسېده او ان ځينې لوی ښارونه هم د مخالفينو لاسته ورغلل، نو په دغسې يو حالت کې واکمن مجبور وو چې د يو ډول دموکراسۍ او ازادۍ تمثيل وکړي، ان تر دې چې ځينو ته د رښتيني وګړواکۍ په بڼه ښکارېدله، د بيان او قلم ازادي په وروستيو وختونو کې زياته شوه، هغه فشار چې پخوا د ښارنې، نيونې، وژنې او زنداني کولو په برخه کې موجود و، ورو ورو خپل زور او ځواک بايلود، خو بيا هم په دې پېر کې له هېواده د مسلکي کادرونو او نورو افغانانو د وتنې لړۍ بنده نه شوه. لويو ښارونو، لکه: جلال اباد، کندهار او نورو کې د درنو جګړو پيل او دوام او همدارنګه د دواړو غاړو له خوا، د ډېرو درنو، وژونکو او عصري وسلو استعمال، ګڼ شمېر افغانان مهاجرت ته اړ کړل. د دې پړاو په لومړنيو وختونو کې د سياسي او عقيده يي اختناق له کبله يو شمېر علمي کادرونه يا ووژل شول، يا زنداني شول او يا هم فراري شول. په وروستيو وختونو کې د ښکاره وژنو او زنداني کولو شمېر لږ او وروسته بيا بېخي ناڅرګند شو، خو بيا هم د علمي او مسلکي کادرونو د مهاجرت لړۍ بنده نه شوه. د دې پېر په وروستيو څو کلونو (درېو کلونو) کې اکثره خلک پر دې باوري شول، چې د رژيم پښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټینګې نه دي، نو هر چا په ځانګړي ډول تحصیل کړو اشخاصو هڅه کوله، چې په یوه نه یو ډول ځان ته له هېواده د وتلو لار پیدا کړي. پر دې وخت ګڼ شمېر هغه کسان له هېواده ووتل، چې په لویدیزو هېوادو کې یې زده کړه کړې وه. له رواني، ذهني او مسلکي پلوه ورته ډاډه ښکاره کېده، چې که تر هېواده بهر ته لاړ شي، نو ژوند یې تضمین او خوندي شي. د مسلکي کادرونو د فرار بل اساسي لامل دا هم و، چې پر دې وخت د دولت اقتصاد ورځ پر ورځ کمزوری کېده، و اکمنو زیات لګښت د جګړو په برخه کې کاوه.

د مسلکي او علمي کادرونو معاش د دې جوګه نه و، چې نور دې دوی د پخوا په شان له هغه څخه د خپل ژوند چارې سمبال او خوندي کړي. عمومي بې باوري هم بل لامل و. ان په واکمن ګوند او حکومت کې ډېر داسې مسلکي کادرونه او اشخاص وو، چې په همدې پېر کې یې خپلې کورنۍ هم بهر ته لېږدولې وې او په خپله هم د وتلو په حال کې وو. دا ډول اشخاصو ان د دولت له رسمي امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره، ځانونه بهرنیو هېوادونو ته وایستل. ځینې هغه اشخاص، چې د دولت له خوا بهرنیو هېوادونو، په ځانګړي ډول پخواني شوروي اتحاد ته تللي وو، د تحصیل دوره یې پای ته رسېدلې وه، هغوی هم اکثرو هېواد ته له

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتګ څخه ډډه وکړه او یو شمېر نورو چې هلته یې تحصیل کړی و، هغوی هم په دې لټه کې شول، چې له یوې لارې، بېرته ځان همغو ټولنو او هېوادونو ته ورسوي، نو په دې ډول پر دې وخت هم د عامو افغانانو او هم د تحصیل کړو افغانانو د فرار لړۍ کمزورې نه، بلکې لا ګرمه شوه. د ملګرو ملتو د مهاجرینو د یوې رسمي شمېرنې له مخې پر **۱۳۶۵**ل= **۱۹۸۲**م کال د افغانستان د ټولو مهاجرینو شمېره (**۴،۷۰۲**،۰۰۰) تنه وه پر **۱۳۷۰**ل= **۱۹۹۱**م کال دا شمېره (**۲،۱۹۷**،۰۰۰) تنو ته ورسېده،[۱] د مهاجرینو د څومره والي په اړه به وروسته یو جدول وګورئ.

یوازې له کابل پوهنتون څخه په دې موده کې اټکل (۱۰۰) تنو په شاوخوا کې استادان مهاجر شوي دي. همدارنګه بل هر علمي او فرهنګي مرکز هم دومره ضایعات ورکړي دي.

د ځینو علمي کادرونو ځایونه نو یو کادرونو ډک کړل، خو نه په هغه کیفیت او د ځینو لا ځایونه هم تش پاتې شول. پر دې وخت په پوځ کې په زرګونو مسلکي کادرونه، د کودتاوو او اړو دوړو په نامه له دندو لرې کړای شوي دي، بې شمېره وژل شوي او ځینې یې فراري شوي دي، خو له دې ټولو بدمرغیو، فرارونو، جګړو، وژنو، تلفاتو او ورانیو سره سره بیا هم په ټولیز ډول د دولت اډانه او چوکاټ تر زیاته حده روغ پاتې و.

[۱] Afghan Refugee Bulletin, UNHCR, February ۱۹۹۹, Page ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه زېرمې چې پر دې وخت له حکومت سره پاتې وې، په ځانګړي ډول په پوځي برخه کې، که چېرې د يو رغنده ملي حکومت لاسته ورغلي وای، افغانستان به له پوځي پلوه ، که پر ځينو ګاونډيو برلاسی نه وای، نو کمزوری خو به تری په هېڅ وجه نه وای. د شپږو لسيزو د بېلابېلو حکومتونو د ابادیو او لاسته راوړنو اکثره شتمني، په لويو ښارونو کې راټوله شوې وه، د دې وخت د حکومت ارقام او جوړښت ښيي چې پر هغه وخت افغانستان د ايډيالوژۍ له پلوه که د هر ډول حکومت درلودونکی و ، خو يو ډول منظم تشکيل يې درلود.

(( پر ۱۳۶۸ل کال پر پوځي تشکيلاتو سربېره د دولت د ټولو کارکوونکو شمېر (۹، ۱۷۸) زرو ، پر ۱۳۶۹ل کال (۹، ۱۸۸) زرو او پر ۱۳۷۰ل کال (۱، ۱۹۲) زرو تنو ته رسېده. پر ۱۳۶۹ل کال هغه ملي ناخالصه محصول چې ګټه ورځخه اخيستل شوې (۸، ۱۵۲) مليارده افغانۍ او پر ۱۳۷۰ل کال (۳، ۱۴۴) مليارده افغانۍ ارزيابي شوی و. په همدې دوو کلونو کې توليد شوی داخلي ناخالصه محصول په ترتيب سره (۲، ۱۱۴) او (۱، ۱۱۴) مليارده افغانۍ ښودل شوی دی. پر ۱۳۶۹ل کال هغه ملي عايد چې ګټه ورځخه اخيستل شوې (۲، ۱۱۲) مليارده افغانۍ ښودل شوی او په ۱۳۷۰ل کال کې (۱، ۱۰۴) مليارده افغانۍ ښودل شوی دی. توليد شوی داخلي عايد پر همدې دوو کلونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتیب سره (۷۴،۵) او (۷۳،۹) ملیارده افغانۍ ښودل شوي دي. د بلاعوضو مرستو له پلوه د وارداتو اندازه پر ۱۳۲۷ل کال (۲۰۹،۴) ملیونه، پر ۱۳۶۹ل کال (۲۰۴،۴) ملیونه او پر ۱۳۷۰ل کال (۸۷،۵) ملیونه ډالره ښودل شوي دي. د هېواد په پرمختیایي پروژو کې پانګه اچونه پر ۱۳۶۹ل کال (۵۳۰) ملیارده افغانۍ ښودل شوې او پر ۱۳۷۰ (۴۷۲) ارزیابي شوې ده. په ۱۳۶۹-۱۳۷۰ کلونو کې د دولتي او مختلط سکتور د فعالو تولیدي موسسو شمېر، پر ۲۹۴ ښودل شوی او پر ۱۳۷۰ کال ۷۱۷ ارزیابي شوي دي. د همدې سکتور د تولیداتو ارزښت پر ۱۳۶۹ کال (۱۳۵۲۴،۵) ملیونه افغانۍ ښودل شوي او پر ۱۳۷۰ل کال (۲۱۴۹،۳۱) ملیونه افغانۍ ارزیابي شوي دي.

د شیانو د خرڅلاو د دوران ارزښت، پر ۱۳۶۹ کال (۵۸۴۳۳) ملیونه افغانۍ و او پر ۱۳۷۰ کال (۴۵۲۲۲) ملیونه افغانۍ ښودل شوي دي.

پر ۱۳۲۸ل کال د بهرنۍ سوداګرۍ حجم (۹۱۷) ملیونه او پر ۱۳۶۹ل کال (۵۸۹) ملیونه ډالره ښودل شوي دي.

له بهر څخه د شیانو د وارداتو ارزښت، پر ۱۳۶۹ل کال (۹۲۲،۵) او پر ۱۳۷۰ (۷۴۲،۵) ملیونه ډالره ښودل شوي دي. د هېواد د صادراتو ارزښت پر ۱۳۶۹ل کال (۲۱۱) ملیونه ډالره او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـر ۱۳۷۰ل کـال (۵، ۲۹۰) ملیونـه ډالـره کمښل شـوی دی. د نغـدي واردا تـو ارزښت پـر ۱۳۶۹ل کـال (۷،۲۴۸) ملیونـه ډالـره او پـر ۱۳۷۰ (۲،۲۵۲) ملیونه ډالر کمښل شوی دی.

پر ۱۳۶۸-۱۳۶۹-۱۳۷۰کلونو، د یو امریکایي ډالر پـه مقابـل کـې د افغـانۍ رسمي او دولتـي نـرخ (۲،۵۰) افغـانۍ و، خـو د کابـل پـه ازاد بـازار کـې پـه ترتیـب سـره یـو امریکـایي ډالـر (۲۳، ۵۴۲)، (۸۳، ۸۵۵) او (۷۲، ۱۵۱۹) افغـــانۍ تبادلـــه کېده[1].

پـر ۱۳۶۹ل کـال دولـت (۱۴۴۳۲۱) تنـه نارینـه کـارکوونکي او (۴۴۴۹۱) تنه ښځینه کارکوونکي درلودل[2].

یو زیات شمېر کسان، چې د دولت اکثره کارکوونکي هم پـه کـې شـامل وو، پـه یـوه اتحادیـه کـې، چـې د (امکـا) پـه نامـه یادېدلـه شـامل شـوي وو. دا شـمېر مجموعـاً (۳۰۰۰۰۰) تنـو تـه رسېده چې لـه دې جملې څخـه (۹۲۷) تنـو د دوکتـورا، (۱۵۹۲) تنـه د ماسـټرۍ، (۱۲۷۹۵) تنـو د لېسـانس دیپلومونـه درلـودل، (۳۳۸۹۸) تنـه د ابتـدایي (۳۴۲۷۴) تنـه د خصوصـي زده کـړو خاوندان وو او (۱۳۵۷۱۲) تنه نالوستي وو.[3]

---

[1] گزیده شاخصهای احصائیوی، د احصائیې وزارت، کابل، ۱۳۷۰ل کال، بېلابېل مخونه.

[2] سالنامهٔ احصاییوی، د احصائیې وزارت، کابل، ۱۳۶۹ل کال، ۱۷مخ.

[3] همدا اثر ۲۴۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

((په فرهنګي برخه کې د دې پړاو، پر ۱۳۶۲ل کال د سواد د زده کړې په برخه کې کورسونه فعال وو، چې د شاملانو شمېر يې (۴۵۳) زرو تنو ته رسېده او په منځني ډول هر کال (۱۳۸) زره تنه ترې فارغېدل. پر همدې کال د ښوونځيو شمېر (۱۳۰۸) ته رسېده، په داسې حال چې پر ۱۳۵۷ل کال ټول (۳۸۴۳) ښوونځي فعال وو. پر ۱۳۶۲ل کال د عمومي زده کړو د ښوونځيو د زده کوونکيو شمېر د (۷۷۶) زرو تنو په شاوخوا کې وو، چې د ۱۳۵۷ل کال په انډول (۲۵۸) زره تنه او يا په سلو کې (۲۵) کموالی ښيي. پر ۱۳۶۲ (۲۹) حرفوي تخنيکي تعليمي موسسې فعالې وې، چې د ۱۳۵۷ل کال په پرتله په سلو کې (۲، ۲۳) زياتوالی دی. پر ۱۳۵۷ل کال د روغتونونو د بستر شمېر (۳، ۴) زرو بسترونو ته رسېده، خو پر ۱۳۶۱ کال (۹،۷) زرو بسترونو ته لوړ شو. پر ۱۳۵۷ل کال د هرو لسو زرو تنو لپاره (۰،۸) ډاکتر، خو پر ۱۳۶۲ کال د هرو لسو زرو تنو لپاره (۱،۷) ډاکترانو ته لوړ شو، چې (۲،۱) زياتوالی ښيي.))[1]

[1] پوهنمل دوکتور نجيب الله فايز، اجتماعي علوم مجله، کابل پوهنتون، ۱۳۶۸ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې پړاو په وروستيو کلونو کې د ښوونې او روزنې او همدارنګه د لوړو زده کړو څومره والی په لاندې ډول دی:

| کلونه | ۱۳۶۹ | ۱۳۷۰ |
|---|---|---|
| د ښوونځيو شمېر | ۱۴۰۱ | ۱۴۲۷ |
| لومړني ښوونځي | ۵۸۳ | ۵۹۴ |
| منځني ښوونځي | ۸۱۸ | ۴۹۱ |
| لېسې | ۸۱۸ | ۲۴۲ |
| د زده کوونکو شمېر | ۹۰۹،۹ زره تنه | ۹۱۱،۰ زره تنه |
| له دې جملې څخه: | | |
| لومړني ښوونځي | ۲۲۷،۹ زره تنه | ۲۲۸،۷ زره تنه |
| منځني ښوونځي | ۲۸۲،۵ زره تنه | ۱۸۰،۹ زره تنه |
| لېسې | _ | ۱۰۱،۴ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۳۱،۲ زره تنه | ۱۱۳،۴ زره تنه |
| له دې جملې څخه | | |
| لومړني ښوونځي | ۲۵،۸زره تنه | ۷۲،۹ زره تنه |
| منځني ښوونځي | ۱۱۸،۸ زره تنه | ۴۰،۵ زره تنه |
| لېسې | _ | _ |
| د ښوونکو شمېر | ۲۳،۵ زره تنه | ۲۳،۱ زره تنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| لـــه دې جملـــې څخـــه: ښځینه ښوونکې | ۱۲،۴ زره تنه | ۱۲،۳ زره تنه |
| د کورسونو شمېر | | |
| د سواد زده کړې | ۱۵،۲ زره | ۱۲،۰ زره |
| شاملین یې | ۳۳۰،۵ زره تنه | ۳۳۲،۵ زره تنه |
| فارغان یې | ۲۹،۴ زره تنه | ۱۲۳،۰ زره تنه |
| د ښـــــــــوونکو او سوپروایزرانو شمېر | ۳،۷ زره تنه | ۳،۷ زره تنه |

د لوړو زده کړو د موسسو او محصلینو شومره والی په دې ډول دی:

| | | |
|---|---|---|
| د لـــــوړو زده کـــــړو د موسسو شمېر | ۱۳۶۹ | ۱۳۷۰ |
| ټول | ۳ بابه | ۷ بابه |
| د پوهنځیو شمېر | ۳۷ | ۳۷ |
| د محصلینو ټول شمېر | ۱۲،۵ زره تنه | ۱۸،۳ زره تنه |
| د شاملانو شمېر | ۷،۲ زره تنه | ۷،۵ زره تنه |
| د فارغانو ټول شمېر | ۱۵۴۳ تنه | ۱۷۸۲ تنه |
| د استادانو ټول شمېر | ۱۴۲۷ تنه | ۸۸۲ تنه |
| د منځنیـو مسـلکي حرفـه | ۵۲ بابه | ۲۵ بابه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| یي ښوونځیو شمېر | | |
| د محصلینو ټول شمېر | ۸،۵ زره تنه | ۳،۷ زره تنه |
| د شاملانو شمېر | ۳،۲ زره تنه | ۱،۲ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۱۷۲تنه | ۸۱۲ تنه |
| د ښوونکو شمېر | ۹۲۵ تنه | ۴۸۹ تنه |
| د تخنیکمونو شمېر | | |
| ټول | ۹ بابه | ۹ بابه |
| د محصلینو شمېر | ۲۲۰۵ ته | ۳۷۲۴ تنه |
| د لومړي کال د محصلینو شمېر | ۱۸۸۵ تنه | ۱۰۲۵تنه |
| د فارغانو شمېر | ۱۵۰ تنه | ۵۷۲ تنه |
| د استادانو شمېر | ۵۰۲ تنه | ۵۱۵ تنه |
| د ښوونکو د روزنې موسسې | ۱۱ بابه | ۱۱ بابه |
| ټول محصلین | ۲،۲ زره تنه | ۲،۸ زره تنه |
| د شاملانو شمېر | ۱،۰ زره تنه | ۱،۳ زره تنه |
| د فارغانو شمېر | ۲۴۹ تنه | ۸۲۴ تنه |
| د استادانو شمېر | ۱۲۹ | ۵۱۸ |

د دې پړاو په وروستیو درېو کلونو کې د طبي برخې شومره والی په دې ډول وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| د روغتونونو شمېر | ۱۳۶۸ | ۱۳۶۹ | ۱۳۷۰ |
| ټول | ۱۰۴ بابه | ۱۱۱بابه | ۱۱۱بابه |
| د بسترونو شمېر | ۱۰،۵ زره بستره | ۱۰،۳ زره بستره | ۱۰،۴ زره بستره |
| د هرو لسو زرو تنو لپاره د بستر شمېر | ۲،۳ بستره | ۲،۴ بستره | ۲،۳بستره |
| د ډاکترانو شمېر | ۳۲۷۹ تنه | ۳۵۳۵ تنه | ۳۵۹۰ تنه |
| دهرو لسو زرو تنو لپاره د ډاکترانو شمېر | ۲،۱ تنه | ۲،۲ تنه | ۲،۲ تنه |
| د منځنيو طبي زده کړو پرسونل | ۲۲۵۳ تنه | ۲۲۷۳ تنه | ۷۱۷۲تنه |
| اساسي صحي مرکزونه | ۷۵ بابه | ۱۰۳ بابه | ۷۵ بابه |
| د ايکسريزونو شمېر | ۱۱۴ | ۱۱۳ | ۱۱۳ |
| د درملتونونو شمېر | ۱۲۲۵ | ۱۷۳۷ | ۱۹۷۰ |
| د درمل جوړوونکو شمېر | ۷۲۲ تنه | ۸۵۸ تنه | ۱۹۹۸ تنه[1] |

[1] گزيده شاخصهاى احصاييوي، ببلابېل مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولیز ډول د دې پړاو پر وروستیو دوو کلونو زیات شمېر علمي او مسلکي کادرونه له افغانستان نه ووتل. ورځ پر ورځ د دولتي نظام کمزوري، پر چارو نه واکمني، د نظام پر پایښت بې باوري، دجګړې ګواښونه، زیاته اقتصادي تنګلاسي، د پوهې او علم د مادي ارزښت کمېدل او ځینې نور عوامل، د دې سبب شول، چې زیات شمېر تحصیل کړي اشخاص ،خپل ټاټوبی پرېږدي او پردیو هېوادونو ته پناه یوسي.

تر دې وخت پورې تر ۲ ملیونو زیاتو افغانانو په بهر کې استوګنه غوره کړې وه، چې هغه وخت تقریباً د هېواد د ټول نفوس ۳۷ فیصده وګړي جوړوي، نو که چېرې پر دې وخت د هېواد د ټولو تحصیل کړو اشخاصو مهاجره برخه معلوموو نو هلته هم کېدی شي، همدا سلنه په پام کې ونیول شي، یو اټکل هم کېدی شي، هغه دا چې تر ۱۳۷۰ل کال پورې د ټول نفوس په حساب ۳۷ فیصده افغانان مهاجر شوي وي، نو کېدی شي د تحصیل کړي اشخاصو شمېره دهغوی د سلنې (فیصدی) له مخې تر دې ۳۷ فیصدو څه ناڅه کمه ځکه وي، چې د افغانستان تحصیل کړي خلک اکثره په لویو ښارونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راټول شوي وو او تر دې وخته لوی ښارونه او په تېره بيا مهم روزنيز تحصيلي او تعليمي مرکزونه د واکمنو په لاس کې وو او د کليوالي سيمو په انډول ډېر مصئون پاتې وو. په دې وخت د مهاجرو افغانانو ګڼ شمېر نالوستي کسان وو، چې د عقيده يي، فکري عواملو، د جګړې او مرګونو د پرله پسې خطرونو له امله مهاجر شوي وو. د ارقامو له مخې د همدې پړاو پر وروستيو کلونو (( د مجاهدينو د لنډمهالي حکومت د ښوونې او روزنې وزارت په (۱۲۰۸) ښوونځيو او مدرسو کې (۴۰۳۲۹) تنو افغانانو زده کړه کوله. په دې شمېره کې (۱۰۵۷) ښوونځي او مدرسې په سرحد صوبه، سند او اسلام اباد، (۲۰۲) په بلوچستان، (۸۹) په ايران او (۱۲۲) په هغو سيمو کې وو، چې په افغانستان کې د دوی لاسته ورغلې وې.

د دې ترڅنګ (۱۵) ښوونځي او مدرسې نورې هم وې، چې افغاني نجونو په کې زده کړه کوله.))[1]

---

[1] شباهنگ، بازسازی نهادهای فرهنگی افغانستان، د ازاد افغانستان د ليکوالو ټولنه، ۱۳۷۲ل کال، ۳۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم پړاو

## (۱۳۷۱ غویی-۱۳۷۵ تله)

(۱۳۷۱-۱۳۷۵) کلونه د افغاني ټولنې هغه دردونکي او کړوونکي کلونه دي، چې زموږ ټولنې د خپلې مادي او مانیزې شتمنۍ ډېره برخه په کې له لاسه ورکړه. د ۱۳۷۰ کال په وروستیو میاشتو کې د واک د نیولو لپاره ائتلافونه او سازشونه پیل شول، د همدې سازشونو په پایله کې یوه ډله تر نورو دمخه کابل ته دننه کړای شوه. هغه جګړه چې تر ۱۳۵۷ کال وروسته د غرونو له سرونو پیل شوې وه، پر ۱۳۷۱ کال د ښارونو زړونو ته ورسېده. تر دې دمخه چې کومه مانیزه او عامه شتمني په کلیوالو سیمو کې وه، هغه خو د پرله پسې جګړو، بمباریو او لوټنې له کبله له منځه وړل شوې وه. یوازې په لویو ښارونو کې ګڼ شمېر ښوونیز، روزنیز او فرهنګي مرکزونه او دغه راز اقتصادي تاسیسات پاتې وو، چې هم پرې د هېواد زیات شمېر علمي، مسلکي او فني کادرونه راټول وو او هم هغه عام ولس، چې په ښارونو کې مېشته و. سره له دې چې جګړې افغانستان ډېر زیات ځپلی و، خو بیا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مختلف وسله وال تنظیمونه ښارونو ته، په ناکنټروله ډول ورننوتل، نه یوازې دا چې په ښارونو کې درنه جګړه پیل شوه، بلکې په شعوري او نا شعوري، قصدي او نا قصدي ډول پر لوټ، تالان او رنګونې هم لاس پورې شو. علمي مرکزونو هم په دې لړ کې دومره زیانونه وزغمل، چې تصور یې هم نه کېده.

په لویو ښارونو کې له هغې جملې په کابل ښار کې، چې تر ټولو نه زیات د درنو جګړو مرکز و، د اکثرو ښوونځیو، روزنیزو او علمي مرکزونو شتمني لومړی لوټ او بیا څه چې پاتې وو وسېزل شول. ښوونه او روزنه په ډېرو ولایتونو کې پر ټپه ودرېده. هغه ولایتونه چې د کابل د چاروا کو په واک کې نه وو، د هغو ښوونځیو او نورو روزنیزو مرکزونو ته ځکه پیسې نه ورکول کېدې، چې د دوی په اند هغه د دوی د مخالفینو په لاس کې وو او مخالفینو خو ځکه ځانته مسوولیت نه راجع کاوه، چې ځان یې د یو تنظیم په توګه مطرح کاوه او د کابل د چارواکو په شان یې پر ځان د ((اسلامي دولت)) ماسک نه و غوړولی، نو ځکه خو یې د ښوونځیو تمویل د دولت کار او مسوولیت ګاڼه. په دې ډېر کې هېواد ته اساسي او ستر ګوزار همغه په ښارونو کې د درنو جګړو پیل و. کله چې د ۱۳۷۱ل کال د غويي پر میاشت مختلف تنظیمونه ښارونو ته ننوتل، نو په هېواد کې د پخواني سیاسي، فکري او ان فزیکي نظام ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

بڼه بدله شوه. د جګړې شدت، فکري اختناق، ترور، وژنې، نا امنۍ، او نامسولیتۍ، په ډله ییزډول د ښارونو وګړي دې ته مجبور کړل، چې خپل کورونه او دندې پرېږدي او د مهاجرت لاره ونیسي.

په دې بهیر کې تر ټولو زیات زیان تحصیل کړو اشخاصو ته ورواوښت. د ۱۳۷۱ل کال د غویي تر پېښې وروسته، چې ځو مره تحصیل کړو اشخاصو خپل هېواد پرېښود، پر بل هېڅ وخت د دې مهال په اندول دومره تحصیل کړي کسان او هغه هم له ښارونو او علمي مرکزونو څخه بل وخت نه وو وتلي. د هغو احصائیو له مخې چې د غربي راډیوګانو له خوا خپرې شوي، په دې څلور کلن ناورین کې څه د پاسه اتیا زره بې ګناه کسان په کابل ښار کې وژل شوي دي. دا هغه شمېر دی چې نړیوال سره صلیب او نورو خیریه موسسو هم نشر کړی دی)).[1] دغه راز ویل کېږي، چې پر دې وخت یوازې په کابل ښار کې تر (۲۰) زرو څخه زیات کورونه ړنګ کړای شوي او په لکونو افغانان د هېواد په داخل کې بې ځایه شوي او بهر ته مهاجر شوي دي. په همدې لړ کې د مهاجرینو ستر کمپونه، د ننګرهار په لویو دښتو کې جوړ شول او هم ګڼ شمېر کورنۍ پاکستان او ایران ته مهاجرې شوې.

---

[1] پوهنیار محمد نبي فراهي، هیله مجله، ۱۳۷۲ل کال، ۲ ګڼه، ۲۲مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملګرو ملتو د کابل د (UNHCR) د ادارې د **۱۹۹۵**م کال د جولای-نومبر د یوې سروې له مخې د کابل ښار په سلو کې (**۴۸،۳**) کورونه ویجاړ شوي دي، سره له دې چې په دې پېر کې له بهر نه، په ځانګړي ډول له پاکستان او ایران څخه د افغانستان بېلابېلو سیمو ته زیات مهاجرین بېرته ستانه شوي خو له ښارونو څخه د علمي او مسلکي کادرونو د فرار بهیر تر بل هر وخت څخه زیات ګړندی و. په همدې پېر کې د افغانستان منظم وسله وال پوځ، چې په عصري او مجهزو وسلو سمبال او له پوځي پلوه یو غښتلی پوځ و، په لسګونو زره مسلکي او تخنیکي کارکوونکي، افسران او کارپوهان یې درلودل اکثره بې برخلیکه او له دندې ګوښه کړای شول.

تر **۱۳۷۱**ل کال دمخه د افغانستان وسله وال پوځ په تېره بیا د ملي دفاع وزارت د پوځیانو شمېر یو لک تنو څخه زیاتېده او که د هغه وخت د وسلوال پوځ نورې څانګې، ملي امنیت او څارندوی په پام کې ونیول شي نو دا شمېر ان څو لکو وسلوالو ته رسېږي.

تحصیلي او رزنیزې ادارې پر دې وخت ټولې ړنګې بنګې او د ځینو تشکیلاتي حضور هم ختم کړای شو. راډیو ټلویزیون، ښوونې او روزنې، د لیکوالو، هنرمندانو او ژورنالیستانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنې، تر زیاته بریده له منځه لاړې، چې وروسته به یې په جلا څپرکي کې یادونه وشي.

د هېواد او په تېره بیا د کابل ښار د لوړو زده کړو زیاتره مرکزونه تر ډېرې مودې تړلي او له فعالیت لوېدلي پاتې شول. په دې واټن کې کابل پوهنتون (۱۸) میاشتې تړلی و، چې ټول تلف شوی وخت یې (د محصلینو د شمېر په اندول) ۲۱ ملیونو درسي ساعتونو ته رسېږي. د کابل طب انستیتیوت، کابل پولیتخنیک هم لږ تر لږه لس لس ملیونه درسي ساعتونه ضایع کړي دي. همدارنګه هوایي او حربي پوهنتونونه، د علومو اکاډمۍ، د پولیسو اکاډمۍ، د کابل پېداګوژي او د ښوونکو د روزنې (۱۴) بېلابېلې موسسې، تخنیکمونه او نورو، هم کادري او هم علمي زیانونه زغملي دي. له دې ټولو علمي موسسو څخه د کادرونو تېښتې دوام وموند، له کابل پوهنتون څخه تقریباً (۱۰۰) تنه استادان دندې پرېښودو او مهاجرت ته اړ شول. د علومو اکاډمۍ تقریباً په سلو کې د (۲۵) برخې په شمېر علمي کادرونه له لاسه ورکړل، د راډیو ټلویزیون د هنري، تخنیکي او علمي کادرونو ضایعات تر ټولو زیات دي او همدارنګه د نورو علمي مرکزونو.

په دې پړاو کې، چې د پخوانیو کادرونو پرځای کوم نوي کسان وګومارل شول، هغه په هېڅ ډول د هغو پخوانیو ځای نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو ډکولای. هغه افغانان چې پخواني رژیم د زده کړو لپاره بهرنیو ملکونو ته لېږلي وو او شمېر یې سلګونو نه، بلکې زرګونو ته رسېده، د دې حالت په راتلو سره خپل هېواد ته د بېرته ستنېدلو تـول خوبونه، تدبیرونه او خیالونه له سره وایستل. ځینې په همغو هېوادو کې پاتې شول او ځینو هم خپل تحصیل نیمګړی پرېښود او له هغو هېوادو څخه هم نورو هوسا ټولنو ته د تګ په لټه کې شول.

د دې پړاو بل رنځوونکی ګوزار دا و، چې افغانستان کې د هرې خبرې حل، د برچې په څوکې پورې وتړل شو، د منطق او استدلال جنازه بار شوه، تعلیم او تحصیل نه یوازې خپل مانیز ارزښت بایلود، بلکې مادي ملاتړ یې هم له لاسه ورکړ. په دې پړاو کې دا خبره عملي کېږي، چې څنګه قلم د کلاشینکوف پر وړاندې د ډوډۍ ګټلو په لوبه کې ماته خوري او علمي اشخاص مجبورېږي، خپل مسلک خوشې او د یوې مړۍ ډوډۍ د پیداکولو لپاره دویم، یا درېیم کار ته لاس واچوي. کله چې یو مسلکي شخص له خپل آر (اصل) مسلک څخه د ژوند د خړوب لپاره دویم یا درېیم کار ته لاس اچوي، نو تر هر څه لومړی له خپل مسلک او ځانګې سره د ده په ذهني تړاو کې یوه پوله رامنځته کېږي، ورو ورو ددوی ترمنځ اړیکې شلېږي، خپل مسلک سره بې تفاوته کېږي، بیا لرې کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یانې د مسلک د پرېښودلو سبب یې کېږي او په دې ډول د یو مسلک او پوهې خاوند د وخت په تېرېدو سره پر یوه عادي شخص اوړي. د مسلک پرېښودل او یا د هغه د پرېښودلو د زیانونو کچه خورا لوړه ده. کوم مسلکي او علمي کادرونه، چې په هېواد کې پاتې وو او بهر ته د تګ وسه یې نه درلوده، د هغو اکثره د مسلک د پرېښودلو له امله، د مسلکي کادرونو له لیکې ووتل. په تېرو نظامونو او یا هم په سیاسي جریانونو کې د ځینو علمي او مسلکي کادرونو، د ذهني او عملي برخې اخیستنې له امله هم ډېر مسلکي اشخاص یا مهاجر شول او یا هم له دندې ګوښه کړای شول.

اقتصادي ستونزو او د پیسو انفلاسیون هم د علمي کادرونو او ثابت عایده خلکو نقدي پانګه وترورله، هغوی یې د پولۍ تګ ته کېنول. واکمنو د خپلې بقا لپاره په دې پړاو کې دومره پیسې چاپ کړې، چې ساری به یې نه یوازې زموږ په تاریخ، بلکې د وخت د انډول له مخې ((د نړۍ په تاریخ کې هم نه وي. د ځینو ارقامو له مخې د دې پېر چارواکو په څلورو کلونو کې (۸۰۰۰) ملیارده افغانۍ چاپ کړي، چې سریال نمبر یې په بانک کې شته، پردې سربېره د نورو چاپ شویو پیسو اندازه (۱۷) زره ملیاردو افغانیو ته رسېږي.))[1] ((د دې پېر د

[1] ډاکتر محمد اکبر، هیله مجله، ۱۳۷۲ل کال، ۱ګڼه، ۲۷-۲۸مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت د ۱۳۷۳ کال بودیجه (۲۳۵) ملیارده افغانۍ ټاکل شوې ده، خو دولت یوازې (۸۰-۹۰) ملیارده افغانۍ عاید ترلاسه کړای شول تر (۵۰۰) ملیارده افغانیو څخه زیات لګښت یې د بودجې د کسر یانې د نوټونو په چاپ پوره کړ))[۲] دې پېر کې پیسې په شمېر نه، بلکې په ټنونو چاپ شوې، د یوې فرضي او اټکليزې شمېرنې له مخې د دې دورې ټولې چاپ شوې پیسې (تر ۱۳۷۵ تلې پورې) تر سل زره ملیارده افغانیو هم زیاتی کوي، که دا پیسې د افغانستان پر ټول نفوس وېشل شوې وای نو هر افغان ته به په لکونو افغانۍ ور رسېدلی وای، خو د دې پیسو زیاته برخه د جګړې د دوام او د ځاني ګټو لپاره وکاربېدله او همدا راز یې د هېواد د وګړو په تېره بیا د ثابت عایده دولتي مامورینو او علمي کادرونو نقدي زېرمه هم له منځه یوړه. په دې پېر کې انفلاسیون تقریباً په سلو کې (زرځله) اوچت شو خو د دولتي مامورینو او مسلکي اشخاصو معاش ایله په سلو کې (۳۰-۳۵) اوچت کړای شو.

دغسې اقتصادي تنګسیا هم د ډېرو تحصیل کړو اشخاصو ژوند خپ‌ښته او تریخ کړ، یا د مسلک او یا هم د هېواد د پرېښودلو ته اړ شول.

(۲) دافغانستان د بهرنیو چارو وزارت یو ګزارش، کابل، ۱۳۷۷ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو تحصیل کړو اشخاصو، دپلوماتانو، متخصصینو او نورو مسلکي اشخاصو چې په تېر پړاو کې یې په بهرنیو هېوادو او ملګرو ملتو کې د افغانستان په سفارتونو او نمایندهګیو کې کار کاوه، د نوي پړاو په راتګ سره، یو هم بېرته خپل هېواد ته رانغی او تقریباً ټولو په بهرنیو هېوادونو کې سیاسي پناه واخیستله.

د (۱۳۶۵-۱۳۷۱) ل کلونو په بهیر کې افغانستان د بهرنیو هېوادونو په دې ښارونو کې سفارتونه او نمایندهګۍ درلودې:

۱ لندن

۲ روم

۳ پاریس

۴ صوفیه

۵ برلین

۶ بوداپست

۷ وارسا

۸ بلګراد

۹ بن

۱۰ پراګ

۱۱ عدن

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ۱۲ | مسکو |
| ۱۳ | هاوانا |
| ۱۴ | پیکنګ |
| ۱۵ | اولان باتور |
| ۱۶ | ادیسه بابا |
| ۱۷ | هانوی |
| ۱۸ | ډهلي |
| ۱۹ | کویټ |
| ۲۰ | طرابلس |
| ۲۱ | قاهره |
| ۲۲ | دمشق |
| ۲۳ | جاکارتا |
| ۲۴ | ډاکه |
| ۲۵ | توکیو |
| ۲۶ | تهران |
| ۲۷ | انقره |
| ۲۸ | ویانا |
| ۲۹ | اسلام اباد |
| ۳۰ | پیونګیانګ |
| ۳۱ | هراري |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۲ بغداد
۳۳ په نیویارک کې د ملګرو ملتونو په سازمان کې د افغانستان نماینده ګي
۳۴ په ژنیو کې نماینده ګي
۳۵ په بمبیي کې د افغانستان جنرال قونسلي
۳۶ په تاشکند کې قونسلي
۳۷ په مشهد کې قونسلي
۳۸ په کراچۍ کې قونسلي
۳۹ په پېښور کې قونسلي
۴۰ په کویټه کې قونسلي [۱]

له دغو نماینده ګیو او سفارتونو څخه سړی اټکل کولای شي چې څومره مسلکي کادرونه او تحصیل کړي اشخاص به په کې مصروف وو، هغوی ټولو له دې نوي پړاو سره د ذهني، فکري مخالفت او په هېواد کې د ګرمې جګړې له امله نورو هېوادونو ته پناه یوړه او په دې ډول افغانستان د یو زیات شمېر هغو دپلوماتانو له لرلو څخه هم بې برخې شو، چې کلونه کلونه یې پرې لګښت کړی و او بیا یې په عملي کار کې یو څه تجربه هم ترلاسه کړې وه.

[۱] د افغانستان کالنۍ، کابل ۱۳۶۶ل کال، (۲۸۱-۲۸۲) مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز په دې پېر کې له بهرنيو چارو وزارت څخه هم (۲۵) تنه کارکوونکي، چې د ماسټرۍ او لېسانس تحصيلي درجې يې لرلې، له دندو څخه ګوښه شوي دي.

سيمه ييزو، ژبنيو، فرهنګي، مذهبي، تنظيمي، سياسي او ځينو نورو کينه ييزو قصدي هڅو هم، په دې پړاو کې له هېواد نه د مسلکي کادرونو په ايستلو کې اغېز درلود. د کار د اهلو او پوهو کسانو پرځای، پر سياسي، ژبنيو، توکميزو او نورومعيارونو د نا اهله کسانو ګومارل، بل هغه لامل و، چې ګڼ شمېر روڼ اندي او مسلکي کسان يې مهاجرت ته مجبور کړل.

د دې پېر پر وروستيو دوو کلونو (۱۳۷۳-۱۳۷۴) واکمنو ته له مخالفينو څخه، د کابل ښار ځينې برخې په لاس ورغلې، چې په هغو کې د کابل پوهنتون او طب انستيتيوت هم شامل وو. کابل پوهنتون چې په همدې پړاو کې د کابل د مرکزي برخو د چارواکو او د هغو د مخالفينو له خوا وران او ويجاړ شوی و، يو ځل بيا د سياسي هدفونو مرکز وګرځېد، واکمنو هڅه وکړه، د پوهنتون د بيا رغونې په برخه کې چې د جګړې په ترڅ کې ورته تر (۵۰) مليونه ډالرو زيات زيان اوښتی و، يو څه لګښت وکړي. له ځينو پوهنځيو پرته چې ډېر درونډ زيان ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښتې و، د پوهنتون د فزيکي بيا رغونې کار تقريباً په سلو کې (۷۵) ترسره شو.

په همدې پړاو کې هڅه وشوه، چې يو شمېر نوي کسان هم د پوهنتون علمي کادر کې شامل شي. په مجموعي ډول په دې پړاو کې د هېواد د محصلينو او استادانو شمېر په دې ډول دی:

((پر ۱۳۷۱ل کال کابل پوهنتون په خپل ورځني ټايم کې (۹۷۷۵) تنه محصلين او مازيګرني ټايم يا شپې پوهنځيو کې (۱۱۰۲) تنه درلودل، اسلامي پوهنتون (۹۰۸) تنه، ننګرهار پوهنتون (۱۵۱۴) تنه، بلخ پوهنتون، (۱۱۲۸) تنه، هرات پوهنتون (۵۲۵) تنه او کابل پوليتخنيک (۲۸۷۹) تنه محصلين درلودل.

پر ۱۳۷۲ل کال د کابل پوهنتون ټولو محصلينو شمېر (۱۱۲۷۷) تنه، د ننګرهار پوهنتون (۷۴۷) تنه، د هرات پوهنتون (۸۷۴) تنه، د کابل پوليتخنيک (۱۲۱۳) تنه د بلخ پوهنتون (۱۷۱۸) تنه و.

پر ۱۳۷۳ل کال دا شمېر کابل پوهنتون (۱۰۱۷۵) تنه، ننګرهار پوهنتون (۹۸۶) تنه، کابل پوليتخنيک (۱۲۵۶) تنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د بلخ پوهنتون (۱۸۱۰) تنه و.))[1] د استادانو ټول شمېر (۷۳۱) تنه و.

پر ۱۳۷۴ل کال کابل پوهنتون د محصلینو شمېر (۵۵۷۱) تنه (ورځ)، (۱۴۰۲) تنه د شپې پوهنځیو، (۱۲۵۲) تنه د ننګرهار پوهنتون، (۹۲۵) تنه د هرات پوهنتون، (۲۹۲۰) تنه د کابل پولیتخنیک، ۱۱۱۲ تنه د کابل پیداګوژۍ د انستیتیوت محصلین وو.

د هېواد له نورو علمي مرکزونو څخه کابل پوهنتون ته د واکمنو پاملرنه زیاته وه، کېدی شي سیاسي لامل په کې زیات اغېز ولري.

هغه پاملرنه چې کابل پوهنتون ته وه، بل هېڅ علمي او روزنیز مرکز ته نه وه، که په ټولیز ډول د دې دورې په باب خبره مطرح کېږي، نو سړی ویلای شي، چې د افغانستان په تاریخ کې نه یوازې له سیاسي، اخلاقي، اقتصادي او امنیتي پلوه دا دوره یوه ډېره کرغېړنه دوره وه، له علمي پلوه هم د افغانستان د علمي کادرونو او علمي مرکزونو لپاره یوه تباه کوونکې او وژونکې دوره ګڼل کېږي.

---

[1] سالنامه احصائیوي، ۱۳۷۲-۱۳۷۳کلونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم پړاو

## (۱۳۷۵تله- ۱۳۷۸ وری)

دا پړاو پر داسې وخت پیل شو، چې تر دې د مخه څلورنیم کلنې انارشۍ د ټول هېواد د ژوند رګونه نیولي وو. کابل په وینو کې غوټې وهلې او نور ښارونه ورځ پر ورځ پر یوه مړاوي او مړژواندي بر خلیک اخته کېدل. د ښارونو، کلیو او بانډو ټول اوسېدونکي، د لوټ، تالان، بدلمنۍ، جګړې، وژنې او ورانۍ له ګوزارونو څخه ستړي شوي او تر پوزې راغلي وو، ټول د یو ژغورندویه الهي ځواک په هیله وو. د ډېرو په سترګو یوازې تیاره ښکارېدله او د رڼا څرک نه لګېده. په پای کې داسې یو ځواک پیدا شو، چې پخواني ټوپکیان یې ټول له یوې مخې پسې په مخه کړل، له کلیو او ښارونو یې وشړل او وسلې یې ترې راټولې کړې. د **۱۳۷۵**ل کال د تلې پر **۵** نېټه دې ځواک د کابل پخوانۍ جنجالیزه اداره راوپرځوله او خپله د واک پر ګدۍ کېناست. خلک چې له جګړو بې حده زیات ستړي شوي وو، د نوي ځواک راتګ او بري ته یې هر کلی ووایه! نوي ځواک که هر څومره سوله او امن ټینګ کړل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک یې د وېرې او ډار له څپو څخه ډاډمن او ارام حالت ته راوګرځول، خو دا ارامي له یو لړ داسې بندیزونو سره مله شوه، چې ورو ورو د ډېرو خلکو د ذهني ستړیا سبب شوه. له مذهب نه یو بل ډول ځانګړي تعبیر، د سیاسي افکارو څارنه، د ازاد فکر د وزرونو تړل، ډول ډول بندیزونه او نور فشارونه د دې سبب شول، چې د واکمنو او تر حکم لاندې اشخاصو، په تېره بیا د پخوانیو دولتي کارکوونکو ترمنځ یو ډول واټن څرګند شي. د دې پړاو په بهیر کې یو ځل بیا د ښار تحصیل کړي قشر یوه ډله مهاجرت ته اړ شوه او د ډول ډول بندیزونو تاب یې رانه وړای شو. په دې دوره کې پر ښځینه تحصیل کړي او تحصیل کوونکي قشر د لګول شوي بندیز له امله ډېرو خپله دنده له لاسه ورکړه او نورې یې له تحصیل څخه (پر دې مهال) بې برخې شوې، ویل کېږي چې تر دې دورې د مخه په ټول دولتي جوړښت کې د ښځینه کارکوونکو شمېر تر ۴۰ زرو تنو پورې رسېده. سره له دې چې دې ښځو ته هماغه پخوانی معاش ورکول کېږي، د دې کتاب د چاپ پر مهال معاش ورکول کېده خو وروسته بیا پرې دا معاش هم بند شو. خو د چټک انفلاسیون په وجه د هغو د معاش ارزښت په نشت حساب دی. هغه تحصیل کړې ښځې، چې د ازاد ښاري کلتور په رڼا کې یې خپل ژوند اوډلې او عیار کړی و، له دې نویو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندیزونو سره یې کلتوري او ذهني پیوستون رانغی او د هېواد پرېښودو ته اړې شوې. دغه راز په دې بهیر کې واکمنو په پخوانیو دولتونو کې د ځینو مامورینو او دولتي کارکوونکو د دریغ پلټنه هم پیل کړه او هم یې د ځینو اشخاصو او مسلکي کادرونو فکري لوري او د تحصیل ځایونه وڅارل او په نښه کړل. د دې ترڅنګ چا چې په تېرو کمونیستي رژیمونو کې، په هر نامه کوم ستاینلیک یا مډال اخیستی و، د هغو څارنه هم وشوه، هغه شمېر تحصیل کړي اشخاص چې د تېرو نظامونو له څپو نه په یو نه یو ډول تر دې دمه په خپلو ځایونو کې پاتې وو، یو ځل بیا له ګواښ سره مخامخ شول. په دې ترڅ کې اکثره وزارتونه وپلټل شول او هغه کسان، چې له نویو وضع شویو مادو څخه په یوه هم برابر نه وو، د ((نامطلوب)) په نامه له خپلې دندې ګوښه شول، په اکثرو وزارتونو کې دا کار وشو، خو په لویه څارنوالۍ او عدلیه وزارت کې د دې تصفیې کچه ډېره زیاته وه. په بهرنیو چارو وزارت کې (۳۴) تنه کارکوونکي، چې دوکتورا، ماستري او لېسانس ډپلومونه یې لرل، له خپلې دندې منفک شول. د لوړو زده کړو له وزارت څخه د لوړو زده کړو د موسسو (۱۱۷) تنه استادان نامطلوب وګڼل شول، چې په دې کې (۵۳) تنه د کابل پوهنتون استادان وو. وروسته بیا پر دې ((نامطلوبو)) کسانو یو ځل بیا غور

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشو، چې د کابل پوهنتون له (۵۳) نامطلوبه کسانو څخه (۲۸) بېرته ((مطلوب)) او (۲۵) نامطلوب وګڼل شول او له دندې ګوښه کړای شول. په دې موده کې د کابل پوهنتون د محصلینو شمېر تقریباً (۳) زرو تنو ته رسېده. د همدې پېر د دوو کلونو د فارغانو شمېر هر کال تقریباً (۴۰۰) تنو ته راټیټ شو. ځینو استادانو له سیاسي او فکري کیس پرته، خپله له پوهنتون سره علاقه وشلوله. پر دې کلونو په ځینو ولایتونو، لکه کندهار، ننګرهار، هرات او بلخ کې هم پوهنتونونه فعال وو. له طب او پیداګوژۍ پرته پر ۱۳۷۲ل کال د ننګرهار پوهنتون استادانو، محصلینو او څانګو شمېر په لاندې ډول دی.

| ګڼه | پوهنځي | استادان | محصلین | څانګې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | انجنیري | ۱۵ تنه | ۲۰۰ تنه | ۳ |
| ۲ | کرنه | ۲۰ تنه | ۸۷ تنه | ۳ |
| ۳ | تعلیم او تربیه | ۱۸ تنه | ۲۷ تنه | ۳ |
| ۴ | ادبیات | ۱۴ تنه | ۲۸ تنه | ۳ |
| ۵ | اقتصاد | ۱۲ تنه | ۹۴ تنه | ۲ |
| ۶ | شرعیات | ۱۸ تنه | ۵۲ تنه | ۳ |
| ۷ | وترنري | ۳ تنه | ۷۲ تنه | ۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

((پر دې کال ننګرهار پوهنتون له طب او پېداګوژۍ پرته (۱۰۵) تنه استادان، ۲۲۲ تنه محصلين او ۲۱ ځانګې لرلې او له ۱۳۵۷ل کال راپه دېخوا يې په ټولېز ډول (۲۳۲۲) تنه انجنيران، متخصصين، ښوونکي او ديني عالمان ټولنې ته وړاندې کړي دي.))[1]

پر ۱۳۷۷ل کال د ننګرهار پوهنتون دوه تنه استادان هم ووژل شول او له دې سره د پوهنتون د استادانو يوه ډله پېښور ته مهاجره شوه، چې ځينې يې بېرته ستانه شول او ځينې يې پاتې شول.

په دې پړاو کې د افغانستان په دولتي جوړښت کې يو چورلټې شکلي بدلون پېښ شو. مسلکي او حرفه يي زده کړې په دولتي جوړښت کې د ګومارنې او په تېره بيا په لوړو پوستونو کې د تقرر عامل ونه ګڼل شوې، بلکې په دولتي چارو کې د استخدام تګلوري او واک په يوه مشخص فکري ګروپ پوې وتړل شو. داسې ښکاري چې تر عمومي مديريت پورې ټول لوړ پوستونه د همدې ځانګړې ډلې د غړو او يا هم د هغې د نږدې پلويانو لپاره مختص شوي دي. په يوه دولت کې د دوو ډولونو معاشونو دود بدل، چې د افغانستان په ټول دولتي جوړښت کې يې بېلګې نه شته، هم د عامو دولتي

[1] پوهاند غونچه ګل حبيب ساپی، ننګرهار مجله، ۱۳۷۷ل کال، ۴ګڼه، ۲۲مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارکوونکو، په تېره بیا د مسلکي کادرونو او واکمنو ترمنځ د زړونو او ذهنونو فاصله زیاته کړه. ذهني، ذوقي، سلیقه یي بندیزونه او دغه راز وچ حاکمیت هم په دې پړاو کې د مسلکي کادرونو د فرار بل عامل و.

د هېواد په داخل کې د مسلکي کادرونو فرار او تېښتې او نورو ډول ډول نیمګړتیاوو سره سره په دې پړاو کې اساسي او بنسټیز کار دا وشو، هغه سیمې چې د دې مشخص تحریک په لاس کې کېوتې، هلته بشپړ امن تامین شو او له امن سره په لومړي ګام کې په بشپړه توګه د هېواد د فزیکي ویجاړۍ مخه ونیول شوه او همدا راز د بیا رغونې او زرغونولو کار هم ورو ورو پیل شو. د ۱۳۷۱-۱۳۷۵ پړاو په بهیر کې په ټول هېواد کې داسې یو لوټ او تالان ګډ و، چې که تراوسه یې دوام موندلی وای، نو په ټول هېواد او په تېره بیا په کابل کې به هېڅ هم پاتې نه وو، خو د پنځم پړاو واکمنو ستر انساني او هېوادنی رسالت ترسره کړ، د هېواد د تجزیې خطر یې پر او سمهال محوه او یا هم ډېر کمزوری کړ او په نیول شویو سیمو کې یې د نورې ورانۍ او ویجاړۍ مخه ونیوله. په همدې وجه د دې پېر په بهیر کې ګڼ شمېر افغان مهاجرین له پاکستان او ایران څخه بېرته خپل هېواد ته ستانه شول. په ستنو شویو افغانانو کې د تحصیل کړو افغانانو شمېر خورا لږ دی، اکثره لو ستو

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانانو د خپل هېواد پرځای، نورو هېوادونو ته مخه کړه او په دې ډول د ټولې غمیزې په بهیر کې د نړۍ یو زیات شمېر هېوادونو کې مېشته شول. اوس به د نړۍ ډېر کم هېوادونه پیدا شي، چې هلته دې افغانانو د خپل ژوند د پاتې برخې د تېرولو لپاره سر نه وي ښکاره کړی، خو په ټولیز ډول له هغو هېوادونو څخه چې ګڼ شمېر افغانانو ورته پناه وروړې ده د دغو هېوادونو نومونه اخیستلای شو: پاکستان، ایران، هالند ،فرانسه، ډنمارک، استرالیا ، ناروې، سویډن، سویس، ایټالیا ، بلجیم، هندوستان، کاناډا ،امریکا ځینې عربي هېوادونه، ترکیه، چک، سلواک، نوی زیلانډ د پخواني شوروي ځینې جمهوریتونه او داسې نور هېوادونه. د یادونې وړ ده چې دې هېوادونو ته اکثره تحصیل کړو افغانانو پناه ور وړې ده او ځینو یې بیا خپلې کورنۍ هم له ځان سره وړې دي. د یو تحصیل کړي افغان عبدالمالک بېکسیار په وینا ، چې په ډنمارک کې اوسېږي، لږ تر لږه ډنمارک ته تراوسه پورې (دوه زره ) افغانانو پناه وروړې ده، په دې دوه زره کسانو کې د اټکل له مخې تر (۵۰۰ ) تنو پورې انجنیران، ډاکتران او په بېلو بېلو څانګو کې د لوړ تحصیل خاوندان دي.

د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې د غمیزې له پیل نه تراوسه پورې د مېشتو افغانانو د دقیق شمېر جاج معلوم شوی نه دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې لا اوس هم افغانان د ورتګ په حال کې دي او یا هم له یو هېواد څخه بل هېواد ته ځي او د تحول په حال کې دي، خو د ملګرو ملتو ادارې UNHCR له (۱۹۸۰-۱۹۹۹) پورې په پاکستان، ایران، هند، روسیې او د منځنۍ اسیا په هېوادونو کې د افغان مهاجرینو هغه شمېر خپور کړی، چې له دوی سره په بېلابېلو وختونو کې ثبت شوي دي. د دې شمېر څرنګوالی په دې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| کال | پاکستان | ایران | هند | روسیه | قزاقستان | گرجستان | تاجکستان | ترکمنستان | ازبکستان | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹۸۰ | ۴۰۰،۰۰۰ | ۲۰۰،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۶۰۰،۰۰۰ |
| ۱۹۸۱ | ۱،۴۰۰،۰۰۰ | ۵۰۰،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۱،۹۰۰،۰۰۰ |
| ۱۹۸۲ | ۳۷۵،۰۰۰ | ۸۰۰،۰۰۰ | ۳،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۳،۱۷۸،۰۰۰ |
| ۱۹۸۳ | ۲،۷۰۰،۰۰۰ | ۱،۲۰۰،۰۰۰ | ۴،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۳،۹۰۴،۰۰۰ |
| ۱۹۸۴ | ۲،۸۰۰،۰۰۰ | ۱،۵۰۰،۰۰۰ | ۵،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۴،۳۰۵،۰۰۰ |
| ۱۹۸۵ | ۲،۹۰۰،۰۰۰ | ۱،۸۰۰،۰۰۰ | ۶،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۴،۷۰۶،۰۰۰ |
| ۱۹۸۶ | ۲،۷۰۰،۰۰۰ | ۲،۰۰۰،۰۰۰ | ۶،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۴،۷۰۶،۰۰۰ |
| ۱۹۸۷ | ۲،۸۷۸،۰۰۰ | ۲،۲۲۱،۰۰۰ | ۶،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۵،۱۰۵،۰۰۰ |
| ۱۹۸۸ | ۳،۱۵۶،۰۰۰ | ۲،۷۰۰،۰۰۰ | ۵،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۵،۸۶۱،۰۰۰ |
| ۱۹۸۹ | ۳،۲۵۵،۰۰۰ | ۲،۹۰۰،۰۰۰ | ۵،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۶،۱۶۰،۰۰۰ |
| ۱۹۹۰ | ۳،۲۷۲،۰۰۰ | ۲،۹۴۰،۰۰۰ | ۸،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۶،۲۲۰،۰۰۰ |
| ۱۹۹۱ | ۳،۱۸۵،۰۰۰ | ۳،۰۰۰،۰۰۰ | ۱۲،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۶،۱۹۷،۰۰۰ |
| ۱۹۹۲ | ۳،۰۷۷،۰۰۰ | ۲،۹۰۰،۰۰۰ | ۱۰،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | _ | ۵،۹۸۷،۰۰۰ |
| ۱۹۹۳ | ۱،۶۲۷،۰۰۰ | ۲،۷۰۰،۰۰۰ | ۱۱،۰۰۰ | ۱۲،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | ۴،۳۵۰،۰۰۰ |
| ۱۹۹۴ | ۱،۴۷۷،۰۰۰ | ۱،۸۵۰،۰۰۰ | ۲۴،۰۰۰ | ۱۶،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | ۳،۳۶۷،۰۰۰ |
| ۱۹۹۵ | ۱،۰۵۳،۰۰۰ | ۱،۶۲۳،۰۰۰ | ۲۲،۰۰۰ | ۱۷،۰۰۰ | _ | _ | _ | _ | _ | ۲،۷۱۵،۰۰۰ |
| ۱۹۹۶ | ۱،۲۰۰،۰۰۰ | ۱،۴۲۰،۰۰۰ | ۲۰،۰۰۰ | ۱۹،۰۰۰ | ۲،۰۰۰ | ۱،۰۰۰ | ۱،۰۰۰ | ۲،۰۰۰ | ۳۰،۰۰۰ | ۲،۶۹۵،۰۰۰ |
| ۱۹۹۷ | ۱،۲۰۰،۰۰۰ | ۱،۴۰۰،۰۰۰ | ۱۹،۰۰۰ | ۲۰،۰۰۰ | ۲،۰۰۰ | ۱،۰۰۰ | ۱،۰۰۰ | ۲،۰۰۰ | ۳۰،۰۰۰ | ۲،۶۷۵،۰۰۰ |
| ۱۹۹۸ | ۱،۲۰۰،۰۰۰ | ۱،۴۰۰،۰۰۰ | ۲۰،۰۰۰ | ۱۷،۰۰۰ | ۲،۰۰۰ | ۱،۰۰۰ | ۲،۰۰۰ | ۱،۰۰۰ | ۳،۰۰۰ | ۲،۶۷۵،۰۰۰ |
| ۱۹۹۹ | ۱،۲۰،۰۰۰ | ۱،۴۰۰،۰۰۰ | ۲۴،۰۰۰ | ۱۶،۰۰۰ | ۴۰۰ | ۶۰۰ | ۳۶۰ | ۱۰۰ | ۳۷۰۰ | ۲،۶۴۹،۰۰۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

په روسیه کې (۱۲۰۰۰) تنه افغانانو یوازې سیاسي پناه غوښتې ده، خو اټکل (۱۵۹) زره ته افغانان د روسیې په فیډریشن کې اوسېږي.[۱]

په ټولیز ډول د دې پړاو په باب سرې ویلی شي، چې دا دوره هم لکه څنګه چې ځینې تحصیل کړي او مسلکي کادرونه او فني کارکوونکي په کې ((نامطلوب)) وګڼل شول، همداسې د هېواد تحصیل لرونکي قشر ته ((نامطلوبه)) دوره وه. په دې دوره کې د روزنیزو، ښوونځیو او نورو کلتوري مرکزونو د ودانیو فزیکي اعمار ته زیان ونه رسېده او د هغو د ساتنې هڅه وشوه، خو البته ځینې ښوونځي، روزنیز او علمي مرکزونه له مشخص مرام، نصاب او تګلارې څخه واړول شول او د یو بل ډول درسي نصاب تابع شول. د درسي نصاب ګډوډول، یوه هغه ستره روزنیزه او ښوونیزه ستونزه ده چې په تېرو کلونو کې زموږ د هېواد تعلیمي سیستم ورسره لاس او ګرېوان و او په نږدې راتلونکي کې هم د یو واحد معیاري تحصیلي او تعلیمي نصاب رامنځته کېدل یو ستونزمن کار ښکاري. ۱۳۷۵-۱۳۷۸ کلونه د هېواد د زیاتې برخې لپاره د امن او سولې په برخه کې بریاوې، خو د روزنیزو چارو په برخه کې نیمګړتیاوې او ان پر شاتګونه لري.

[۱] Afghan Refugee Bulletin, UNHCR, February ۱۹۹۹, Page ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ارزښتونو کمزوري کېدل او د فرار ګرندي کېدل

افغانستان ته د تېرو دوو لسیزو په ترځ کې ډول ډول درانه زیانونه اړول شوي دي. د ټولنې کلتوري استحکام او ارزښتونو ته هم دومره زیانونه ور واړول شول، چې ډېرې برخې یې کمزورې شوې، ځینې یې کم ارزښته او ځینې یې وپاشل شوې. د غمیزې په لومړي پړاو کې د یو فکر او عقیده یې معیار له مخې دواړو غاړو جګړې ته ملا وتړله. ذهني جګړه په ګرمۍ پیل او ورپسې فزیکي جګړه توده شوه. په لومړي پړاو کې دواړو غاړو د خپل فکري ښوونځي تر سیوري لاندې ځان حق په جانب ګاڼه او تر یو ډول روانې ډاډ لاندې یې جګړې ته دوام ورکاوه. په دې پړاو کې چې څه تحصیل کړي اشخاص هېواد پرېښودلو ته اړ شوي وو، نو زیاتره په پاکستان او ایران کې مېشته وو، یو ډېر کم شمېر یې نورو هېوادونو ته پناه ور وړې وه. د شوروي په یرغل سره، چې څپې څپې افغانان او په هغو کې تحصیل کړي اشخاص پاکستان او ایران ته مهاجر شول، نو بیا هم د جګړې، قربانۍ او د هېواد د خپلواکۍ روحیه ډېره پیاوړې لا څه چې اورنۍ شوه. خپل هېواد او اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره مینه په څپو وه او هغو ته ټول په ډېر لوړ ارزښت یاني د ژوند د قربانۍ په بیه قایل وو ، ځکه نو د پردیو پر وړاندې د افغانانو د مبارزې مورچل له فکري، رواني او عقیده یي پلوه ډېر غښتلی و. په دې پېر کې هم، افغانان د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې خواره شول، د خورېدو یو علت یې هم دا و ، چې اکثرو جهادي تنظیمونو هلته دفترونه پرانیستي وو او د شوروي پر ضد ، د مبارزې لپاره د مرستو راټولولو په لټه کې وو. ډېر کم شمېر افغانان په دې نیت ورغلي وو ، چې هلته دایمي پناه واخلي او د هغه ځای تابعیت ومني.

اکثرو افغانانو ته دا خبره ببخي شرم او ننګ ښکارېده چې څنګه خپل قومي او ملي هویت پرېږدي او د بل هېواد تابعیت ومني، سره له دې چې پر هغه وخت د زیاتو تحصیل کړو او ان عادي افغانانو لپاره د دې خبرې امکانات وو ، چې دوی د همغو لویدیزو هېوادونو په لګښت هلته لاړ شي او بیا هلته ومنل شي. داسې انګېرل کېږي، چې لویدیزوالو دا ګڼله، چې د شوروي تر وتلو وروسته باید واک داسې یوې ډلې یا اشخاصو ته ولېږدول شي، چې د لویدیځ پلویان وي. نو له دې کبله یې زیات شمېر تحصیل کړو افغانانو ته خپله غېږه خلاصه کړې وه او د پناه امکانات یې ورته برابر کړي وو. هغوی غوښتل چې له همدغو افغانانو څخه په راتلونکي کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت جوړولو د عملي ځواک په تو ګه ګټه پورته کړي. هغه وخت دا فکر او اټکل نه کېده، چې شوروي اتحاد دې په دې بڼه وپاشل شي او بيا دې دومره ذليل شي، چې د خپل ځان د راټولولو وس دې هم پيدا نه کړي او افغانستان دې خپل هغه پخوانۍ سياسي او پوځي ارزښت بايلي.

سره له دې چې پر دې وخت د ياد وړ افغانان لويديځ ته مهاجر شول، خو اکثرو د خپل هېواد د ازادۍ لپاره شپې او ورځې شمېرلې او له رواني او فکري پلوه په دې فکر کې نه وو، چې دوی به په لويديځ کې پاتې کېږي او د هېواد راتلونکي شرايط به د دوی د راتګ مخه نيسي او يا به هم داسې حالت راځي، چې د دوی هغه پخوانۍ ولولې مړاوې او ځينې نور ارزښتونه کمزوري کړي.

په بل پړاو کې چې د شوروي لښکرې له افغانستان څخه وايستل شوې، د جګړې عقيده يې لوری هم ورو ورو بدلېده او هغه پخوانی ځواک او جوش يې ورو ورو له لاسه ورکاوه. خو دې پېر کې بيا هم لويديځ ته د تحصيل کړو اشخاصو د بهير لړۍ تمه نه شوه. پاکستان د دې ډول اشخاصو د تګ لپاره مناسب ځای و، له همدې ځايه اکثرو افغانانو غرب ته پناه يووړه، په دې پېر کې هم ځينو هغو روڼاندو تحصيل کړو اشخاصو چې پخوا يې د ((کمونستي نظام)) پر ضد جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوله، ورو ورو یې هغه پخوانۍ ولوله او روانې ډاډ کمزوري کېدل، نو ځکه خو له یو سترې ژوند څخه د یو ارام ژوند په لټه کې شول. د فزیکي ارامتیا لپاره ورته نو تر لویدیزو هېوادونو نوره غوره ټولنې په نظر نه ښکارېدې.

سره له دې چې عقیده یې او کلتوري جوړښت یې د هغو ټولنو تر وګړو هم افراطي بڼه لرله، چې دوی یې پرضد جګړه کوله. پر دې ټولنو و اکمن فکري تګلوری او کلتوري فضا نه یوازې دا چې د افغاني ټولنې له عقیده یي جوړښت او کلتوري رغښت سره اړخ نه لګاوه، بلکې دواړه سره په رنګ او مانا کې تضاد هم لري. پر دې وخت چې کومو سیاسي تحصیل کړو اشخاصو غرب ته پناه یوړه نو هغوی پر خپل ایډیال نظام او د هغه پر بري بې باوره شان ښکارېدل او یا هم کېدی شي وویل شي، چې د شعار او عمل ترمنځ یوه تېر ایستونکې پرده موجوده وه او د عام ولس د ذهن او سترګو لید تر دې پردې اخوا د واقعیت د لیدلو ځواک نه درلود.

په څلورم پړاو کې چې د کابل د پخواني نظام د تخت تخته واړول شوه، په اصطلاح نوی ((اسلامي نظام)) رامنځته شو، نو د دې نوي نظام د ناوړه کړنو په نتیجه کې ټولو هغو عقیده یي او ملي ارزښتونو ته زیان واوښت، چې (۱۴) کاله زموږ ولس د هغو د ګټنې لپاره جګړې او مبارزې ته هڅول شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام په نوم داسې اسلام ضد کارونه وشول، چې چا یې تصور هم نه کاوه، دې سره هم د جګړو له وېرې او هم د پښتانو حسابونو د تصفیې له داره، د پښتو حکومت ګڼ شمېر کادرونه او نور علمي اشخاص، له افغانستان څخه ووتل او لویدیځ ته یې د پښتو حکومت د غړو او کارکوونکو په توګه پناه یوړه. تر دې دمخه چې به څوک لویدیځ ته تلل، نو د سیاسي کیس د منلو وجه به یې له کمونستي رژیم سره د مخالفت مساله وه، خو تر دې وروسته له بنسټپالو سره مخالفت او وېره د منلو عامل وګرځېد. کمونیزم پلوه اشخاصو کې داسې کسان هم شته، چې پر خپل وخت یې زموږ د بېرهېوادوال د ((امپریالیزم)) د ګوډاګیانو، زامنو او لاسپوڅو په نامه له دندو ګوښه کړي، زنداني کړي، توهین کړي او وژلي دي. تر ۱۳۷۱ل کال وروسته د جګړو پرله پسې دوام د ښارونو لوټونه، ورانونه او عامه وژنه د دې سبب شول چې پښتانې جهادي تنظیمونه هم خپل پښتانی حیثیت او ارزښت بایلي.

پر دې وخت ټول هغه ارزښتونه، چې په تېرو لسیزو کې زموږ د ولس دواړه خواوې د هغو د ساتنې او پالنې لپاره جګړې کې رانښکېل شوې وې، له منځه لاړل، په دې پړاو کې نور په لویدیځ کې د پښتانو ((مجاهدینو)) په اند ول دې نویو ((ملحدینو)) ته هلته د منلو شرایط اسانه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند ستونزې هم ورځ پر ورځ دومره زیاتېدې، چې ډېر کسان یې دېته مجبورول، چې لویدیزو هېوادونو ته پناه یوسي. دا سې کسان هم پر دې وخت لویدیځ ته د تګ پر لاره لیدل شوي، چې پخوا یې تصور هم نه کاوه.

د دې پړاو په بهیر کې په لکونو افغانان نورو هېوادونو ته مهاجر شول. وروسته وروسته چې شرایط نور هم سخت شول او په هېواد کې د خدمت ټول امکانات تر ډول ډول ګردونو لاندې راغلل او د محوه کېدو تر بریده ورسېدل، نو ډېرو افغانانو په ځانګړي ډول تحصیل کړو اشخاصو ته ښکاره ده چې پاتې نه شو.

پر راوروستو وختونو لویدیزو هېوادونو ته د تګ شرایط ډېر سخت شول، خو بیا هم ورتلونکو افغانانو ډول ډول ستونزې وزغملې او د خپلې شخصي پانګې او یا هم په لویدیځ کې د خپلو دوستانو په مالي مرستې یې ځانونه هلته ورسول او دا لړۍ لا دوام لري. دا چې د دې افغانانو مهاجرت افغانستان ته څومره زیان دی او که نه؟ ایا دا خلک به بېرته خپل هېواد ته راشي او که نه؟ په دې باب به وروسته یو اټکلیز نظر وړاندې کړو.

دې پورتنیو ګڼو لاملونو زموږ د هېواد زیات تحصیل کړي اشخاص او علمي کادرونه مهاجرت ته اړ کړل، اوس د هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر علمي، هنري، روزنيز او ښوونيز مرکز نه زيات شمېر علمي او خپل ضروري پرسونل کډه کړې ده. موږ به دلته د هېواد د دې ډول علمي، فرهنګي او هنري مرکزونو له جملې څخه پر يو يا څو مرکزونو او د تللو علمي کادرونو پر څومره والي لږه رڼا واچوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان راډيو ټلويزيون

د نــورو فرهنګــي، هنــري او روزنيــزو مرکزونــو ترڅنــګ د افغانستان راډيو او ټلويزيون ته هم ډېر زيانونه اړول شوي دي. له ۱۳۵۷ال کال نه تر ۱۳۷۱ال کـال پـورې د افغانسـتان د راډيـو او ټلويزيون په بېلابېلو برخو کې زيات پرمختګونه او بدلونونه رامنځتـه شـوي وو. پـه دې دوره کـې راډيـو او ټلويزيـون څـه فزيکي زيانونه او د ويجـاړېدو ګوزارونـه نـه وو ليـدلي. پـر کابـل سربېره پـه يـو شـمېر ولايتونـو کـې هـم راډيـويي او ټلويزيـوني دستګاوې فعـالې او د نصبېدو پـه حـال کـې وې، خـو بيـا هـم د واکمن سياسي فکر او د هغـو د ځينو چلندونو لـه امله راډيـو ټلويزيـون، خپـل ځينـې تخنيکـي پرسـونل لـه لاسـه ورکـړ. پـر ۱۳۷۱ال کال، چې پر کابل او ټول هېواد کومه وبا خپره شوه، نو د هغـې پـه تـرڅ کـې راډيـو ټلويزيـون هـم بـې شـمېره زيانونـه وزغمـل. پـه مجمـوعي ډول د راډيـو ټلويزيـون ټولـو برخـو او تاسيساتو د ۳۰۰ مليونو ډالرو په شاوخوا کې زيان زغملی دی. د پرسـونل لـه مخې هم په دې دوره کـې د راډيـو ټلويزيـون ګـڼ شــمېر وينــدويان، ژورناليســتان، تخنيکــي کــارکوونکي، انجنيران او هنرمندان مهـاجرت تـه اړ شول، ورپسې د ۱۳۷۵ال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـال د تلـې د شـپږمې نېټـې بـدلون راغـی، دې سـره ټلویزیـون چورلټ بند شـو او پـاتې پرسـونل يې هم څه منفک او څه هم مهاجر شو. په دې دوره کې بيا هم راډيو ټلويزيون د پرسـونل لـه مخې ډېر زيات زيانونه ځکه وزغمل چې نويو قوانينو کې هغـو ته د فعاليت هېڅ ځای پـاتې نه و، پـه ځانګړي ډول سندرغاړو او د ځينو برخو هنري پرسونل تـه. د ۱۳۷۸ل کـال پـه پيـل کـې د راډيو ټلويزيون ځينو کـارکوونکو پـه دې تېـرو بېلابېلو دورو کې د پرسونل له پلوه د راډيو ټلويزيون د ضـايعاتو فيصدي دا ډول ښودلې ده:

له ۱۳۵۷-۱۳۷۱ل کال پورې، په راډيو او ټلويزيون کې ۷۰ پـه سلو کې ويندويان، ۷۰ په سلو کې د موسيقۍ هنرمندان، ۸۰ ٪ ژورناليســـتان، ۹۰ ٪ د تيـــاتر هنرمنـــدان او ۹۰ ٪ تخنيکـــي پرسـونل پـاتې و او نـور يا زنداني شـوي، يا يې دنده خوشې کړې، يا مهاجرت ته اړ شوي او ځينې يې مړه شوي هم دي.

لـه ۱۳۷۱-۱۳۷۵ پـورې ۱۰٪ وينـدويان، ۲۰٪ تيـاتر هنرمندان، ۱۰٪ موسـيقۍ هنرمنـدان، ۲۰٪ ژورناليسـتان او ۱۰٪ تخنيکـي پرسونل پاتې وو او نورو راډيو ټلويزيون کې دنده خوشې کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له **۱۳۷۵** څخه تر **۱۳۷۸**ل کال پورې **۳**٪ ویندویان، **۲**٪ تیاتر هنرمندان، **۵**٪ ژورنالیستان او **۳**٪ تخنیکي پرسونل پاتې وو او نور ضایعات لري.

دلته به د راډیو ټلویزیون د تخنیکي، هنري او ژورنالیستیک پرسونل د ځینو مشهورو اشخاصو نومونه واخلو، چې په دې تېرو پړاوونو کې یا منفک شوي، یا یې راډیو تلویزیون پرې ایښی او یا مهاجر شوي دي.

## ویاندان (نطاقان)

| | | |
|---|---|---|
| ۱- سیف الرحمن ابراهیم خېل | ۱۱- کریمه طهوري | ۲۲- عبد الطیف ستانیکزی |
| ۲- غلام نبي پاکتین | ۱۲- ذکیه کهزاد | ۲۳- محمد اغا الکوزی |
| ۳- سهیلا حسرت ناظیمي | ۱۳- زیبا خادم | ۲۴- حسیب خاورې |
| ۴- ثریا خادم | ۱۴- عبد الغفور ویاند | ۲۵- لطیفه کبیر سراج |
| ۵- تورپېکۍ خادم | ۱۵- سید افضل اکبر | ۲۶- نفیسه محمود |
| ۶- رشاد بهیر | ۱۶- ډاکتر حسن شینواری | ۲۷- شریفه شریف |
| ۷- عبدالله شادان | ۱۷- محمد عارف همدم | ۲۸- مینه بکتاش |
| ۸- سیما شادان | ۱۸- عنایت شریف | ۲۹- لطیفه قریشي |
| ۹- ډاکتر حیدر یوازې | ۱۹- عبد الهادي شکور | ۳۰- فریده پاکتین |
| ۱۰- فریده انوري | ۲۰- وکیل احمد ابوي | ۳۱- ګل جان انند |
| | ۲۱- خطاب عمر | ۳۲- انیسه لطیف |
| ۳۳- مستوره شال (په | ۴۲- قاسم یوسفزاده | ۵۳- نیره |

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښور کې مړه شوه )
۳۴- فریده هوډ
۳۵- نصیر سهام
۳۶- عبدالقدوس تندر
(په جرمني کې مړ شو )
۳۷- قمر سید
۳۸- نجیبه حیدر
۳۹- شریفه پاڅون
۴۰- بصیر امین زاده
۴۱- هاشم پکتیانی (په
پېښور کې ووژل شو )
۴۳- آمنه ځیرک
۴۴- قمر سید
۴۵- نجیب جان نصیر
۴۶- نجیب یوسفزاده
۴۷- حامد نوري
۴۸- علـــي محمـــد صادقیار
۴۹- پروین ملال
۵۰-پروین هاشم منصور
۵۱- تاج محمد اکبر
۵۲- نبیله همایون
۵۴- عبدالوهاب شادان
۵۵- اقلیما مخفي
۵۶- مقدسه مخفي
۵۷- مسعود خلیلي
۵۸- مسعود مجروح
۵۹- لطیف جلالي
۶۰- سلام جلالي
۶۱- ظاهر توتاخېل

او ځیني نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سندرغاړي او هنرمندان

| | | |
|---|---|---|
| ظاهر هويدا | فرهاد دريا | وحيد قاسمي |
| رحيم بخش | عبدالله شادکام | مهوش |
| هماهنګ | فيض کاريزي | سلما |
| احمدولي | سيف الدين | رحيم جهاني |
| هنګامه | شبرغزنوي | حيدرسليم |
| رخشانه | اسد بديع | حسين ارمان |
| ژيلا | جاويد الهي | قاسم لوګرى |
| مېرمن پروين | رحيم مهريار | سلام لوګرى |
| ژينوس | پرستو | ګلزمان |
| ايوب | مرجان | حکيم نور اکاخېل |
| نعمت الله | رعنا | سيدعلم |
| قمرګله | مرين | سحرګل |
| احمدشاکر | سيما ترانه | شاه ولي |
| عبدالله مقري | سليم بخش | افسانه |
| منګل | قاسم بخش | الفت هروي |
| نغمه | وکيل روف | يونس |
| ځلاند | عبدالحميد کندهارى | وجيهه رستګار |
| سهيلا ځلاند | ظاهر چاريکارى | فريد رستګار |
| سارا ځلاند | مختار مجيد | اميرجان صبوري |
| حامد شکران | وحيدصابري | ظاهر شباب |
| ګلشن | منـور (پـه پـېښـور کـې | غوث زلمى |

(c) ketabton.com: The Digital Library

عزيزه افغان
اسمعيل پيروز
نورجهان
زمان شوقي
بېلتون
ناشناس
الفت اهنګ
الطاف حسين
اکبرنېکزاد
استاد صابر
استاد شيدا
ميا شيدايي
استاد موسی قاسمي
حفيظ الله خيال
ريحان
خالو شوقي
رشيده ژاله
ناديه
ريتا وږمه
شاه محمد کندهاری
سيد محمد کندهاری
دين محمد
مرتضی فرحتيار
عبدالاحد ميهن يار

مړ شو )
خيرمحمد خندان
او ځينې نور...

**نور کارکوونکي:**

غلام حسن نير
ضيا احمد جاهد
عبدالله افاقي
عبدالغني مهم
عزيز ايشانزاده
اصغر افضلي
نيازمحمد بنايي
حبيب الله تخاري
اسحق ايماقي
عزيز اسوده
وحيد صمدزی
شهسوار سنګروال
ګل احمد ذهاب
سيد جان ملال (په پېښور کې مړ شو )
زلمی بابا کوهي
انجنير لطيف
لطيف بهاند

ناصر طهوري
عبدالله غمخور
پروين ملال
شکريه رمل
شکريه عمر
داود فاراني
نورجهان فاراني
شفيقه بشارت
پرتونادري
عبدالحی عابر
نجيب الله ساکب
حسين هدی
غلام حسين فعال
جلال نوراني
عرب شاه مموزی
لطيف ناظمي
فوزيه عظيمي
عبدالوهاب مددي
نورمراد
محمد انور وفا
نورمحمد صديقي
اسدالله ساپی
امين نوابي
حميد پژمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| احد ژوند | اسمعیل فروغي | ظاهر طنین |
| احد پیغام | محمد سرور انوري | عبدالواحد نظري |
| شېراحمد پیغام | عایشه جلالي | اقا سعید نسیان |
| عبدالغفور اميني | صدیق توخی | |
| محمد حسن میرزی | عزیز رؤف | او ځینې نور |

د دې ترڅنګ د ولایتي راډیوګانو او ټلویزیونونو ضایعات هم خورا زیات دي. پر سندرغاړو، نطاقانو او خبریالانو سربېره د راډیو ګڼ شمېر ممثلین، لکه حاجي محمد کامران، منان ملګری، ف. فضلي، ف عبادي، بایقرا او نور په لسګونو هم، فرار او هېواد پرېښودو ته اړ شوي دي. دغه راز د افغان فلم کارکوونکي او د سینما مشهور لوبغاړي او نور تخنیکي پرسونل د تېرو شلو کلونو، په تېره بیا د راوروسته (۱۳۷۱-۱۳۷۲) کلونو په بهیر کې مهاجرت ته اړ شوي دي. له دې کسانو څخه یو شمېر پر بېلا بېلو وختونو یا په خپل مرګ مړه شوي دي، ځینې یې وژل شوي هم دي او نور اکثره یې په بهرنیو هېوادونو کې له خپل هېواده لرې ژوند کوي.

## ټولنیز- فرهنګي سازمانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱- د هنرمندنو اتحادیه:

د هنرمندانو اتحادیه، چې د افغانستان د هنر د پرمختیا او ودې لپاره او همدارنګه د هنري استعدادونو د غوړېدو، راټوکېدو او راټولونې لپاره جوړه شوې وه، ((پر ۱۳۶۱ل کال یې د نقاشۍ په برخه کې ۱۴۰، د تیاتر په برخه کې ۱۰۲، د موسیقۍ په برخه کې ۳۳۱، د سینماتوګرافۍ په برخه کې ۲۵۰، د مهندسۍ په برخه کې ۱۰۰ تنه غړي درلودل او دا ټول شمېر ۹۰۳ تنه کېږي. تر دې وخته په ۱۴ ولایتونو کې، د ۱۷۰۰ تنو په شاوخوا کې هنرمندانو، د ټولنې غړیتوب ترلاسه کړی و.))[1]

تر ۱۳۷۱ل کال دمخه تقریباً د لسو کلونو په بهیر کې د هېواد یو شمېر هنرمندان، چې په هغو کې ډېر وتلي او نومیالي سندرغاړي هم شامل وو، له هېواده بهر شول. خو له ۱۳۷۱کال څخه تر ۱۳۷۵ل کاله پورې، چې ټول هېواد او په تېره بیا د کابل ښار یوې سراسري ګډوډۍ او انارشۍ نیولی و، د هنرمندانو زیاته برخه د جګړو له وېرې او د نورو تنګسیاوو له امله، له هېواده ووتله. په همدې پېر کې پر موسیقۍ او د هنر پر ځینو نورو برخو یو لړ بندیزونه هم ولګول شول، دا بندیزونه

[1] د افغانستان کالنی، کابل، ۱۳۶۱ل کال، ۴۸ ګڼه، ۹۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پیل کې ډېر ټینګ وو، خو وروسته وروسته د نرمۍ پر لوري روان شول او ان هغه چا چې لومړی یې پر دې ډول سختیو ټینګار کاوه، خپله د نرمښت خوا ته روان شول، خو په دې پېر کې د هېواد عمومي حالات داسې وو، چې د هېچا لپاره د ژوند او تنفس امکان نه و، نو ځکه خو د اکثرو تحصیل کړو افغانانو په څېر د دې ډلې زیاته برخه هم هېواد پرېښودلو ته اړ شوه.

د **۱۳۷۵**ل کال له نوي بدلون سره د سندرغاړو پر سندریزو پروګرامونو، په ځانګړي ډول د موسیقۍ له وسایلو سره پر ساز او سرود ټینګ بندیز ولګول شو او د سرغړونې په صورت کې د درنې سزا اعلان هم وشو. دا وخت که کوم یو سندرغاړی په هېواد کې پاتې و او د موسیقۍ له لارې یې د خپل ژوند چارې خړوبولې، نو هغوی هم مجبور شول، چې هېواد پرېږدي. د ۱۳۷۱-۱۳۷۸ل کلونو په بهیر، په ځانګړي ډول تر **۱۳۷۵**ل کال وروسته واټن کې، تر بل هر ټولنیز قشر څخه دا برخه ډېره خواره او ناچله شوه.

## ۲- د ژورنالیستانو ټولنه:

((د **۱۳۵۹**ل کال د سنبلې میاشتې پر **۲۵**مه نېټه د خپلې لومړۍ کنګرې د جوړېدو په ترڅ کې، چې ۴۰۰ ژورنالیستانو په کې ګډون کړی و، جوړه شوه، پر همدې کال یې د غړو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ۳۷۰ څخه ۷۰۰ تنو ته لوړ شو ))[1] ((تر ۱۳۶۲ل کال پورې د دې ټولنې دغړو شمېر ۱۹۵۱ تنو ته ورسېده، په کابل ولایت کې ۲۲ څانګې او په ۱۲ ولایتونو کې یې ولایتي شوراګانې درلودلې. د ۱۹۵۱ تنو ژورنالیستانو له جملې څخه ۱۳۹۳ تنه په کابل ښار کې وو، چې ۱۰۲۲ تنه یې نارینه او ۳۷۱ تنه یې ښځې وې.

د ۵۵۸ تنو له جملې څخه، چې په ولایتي شوراګانو کې تنظیم وو، ۵۰۲ تنه نارینه ژورنالیستان او ۵۲ تنه ښځینه ژورنالیستانې وې.

په همدې ډول د ټولنې له ۱۹۵۱ غړو څخه ۱۲ تنه ډاکتران، ۷۷ تنه ماستران، ۷۹۹ تنه لیسانس او نور تر لیسانس نه د ټیټ تعلیم څښتنان وو. ))[1]

تر ۱۳۷۱ل کال پورې د ژورنالیستانو د ټولنې کار او فعالیت د خپلو امکاناتو تر بریده پرمخ روان و، په دې واټن کې د ژورنالیستانو ټولنې د نړۍ د ځینو هېوادونو د ژورنالیستانو له ټولنو سره اړیکي ټینګ کړل. د ټولنې ځینو غړو په لسګونو نړیوالو غونډو کې برخه واخیسته او هم د دوی په بلنه له بهر نه ګڼ شمېر بهرني ژورنالیستان، د دوی غونډو ته وبلل شول. تر

[1] د افغانستان کالنۍ، کابل، ۱۳۶۱ل کال، ۴۸ ګڼه، ۹۴۸مخ.
[1] د افغانستان کالنۍ، ۱۳۶۲ل کال، ۴۸ ګڼه، ۲۱۷ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۳۶۵**ل کال وروسته د ژورنالیستانو ټولنې له خوا د ((سباوون)) په نوم یوه ذوقي مجله هم خپرېدله.

د **۱۳۷۱**ل کال په بدلون سره د ژورنالیستانو ټولنه هم، لکه د نورو ټولنو په شان زیانمنه شوه، څو توغوندي د ټولنې پر ودانۍ ولګېدل او شتمني یې لوټ شوه، غړي یې پخوا په انفرادي توګه مهاجرت ته اړ شوي وو، خو تر دې وروسته یې په ډله ییز ډول د مهاجرت لاره ونیوه او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خواره شول. له ۱۳۷۱ل نه تر **۱۳۷۵**ل پورې تشکیلاتي جوړښت روغ و، خو یوازې تشریفاتي بڼه یې درلودله، په واقعیت کې یې نه ځومره والی او نه هم ځرنګوالی له پخوا سره د پرتلې وړ و. تر **۱۳۷۵**ل کال وروسته یې هغه تشکیلاتي جوړښت هم رنګ شو او اوس په دې نامه هلته کومه ټولنه نه شته.

## **۳**- د حقوقپوهانو ټولنه:

((د افغانستان د حقوقپوهانو ټولنه د خپل لومړني کنفرانس په ترڅ کې، چې د **۱۳۶۴**ل کال د سلواغې میاشتې پر **۲**مه نېټه په کابل ښار کې جوړ شوی و او **۵۰۰** تنو منتخبو حقوقپوهانو په کې برخه اخیستې وه، جوړه شوه.

تګلاره یې تصویب شوه او پر فعالیت یې پیل وکړ. وروسته د حقوقپوهانو ټولنې خپلې لیکې پراخې کړې او پر **۱۳۶۲**ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې په تشکیلاتي برخه کې ۲۰۳ تنه حقوقپوهان جذب او د غړیتوب کارتونه یې ورته ورکړل. په مرکز کې یې په ۱۸ ارګانونو کې د حقوقو د ساتنې ځانګې جوړې کړې او همدارنګه په ۷ ولایتونو کې د حقوقپوهانو ټولنې جوړې او پر فعالیت یې پیل وکړ.))[1]

تر ۱۳۷۱ل کاله پورې د حقوق پوهانو ټولنې په مرکز کې په لسګونو حقوقي مسایل څېړلي او د دولت په ځینو ارګانونو کې یې د حقوقي مسایلو او ستونزو د حل په اړه هغو ته مشورې او لارښوونې کړې دي.

دغه راز یې د بشر د مدني، تعلیمي او نورو حقوقو په اړه وخت پر وخت حکومت ته خپل غږ رسولی دی. کله چې پر بشري حقوقو د دولت له خوا تېری شوی او یا له نافذو قوانینو څخه سرغړاوی شوی، نو دوی پر هغو اعتراض کړی، دا چې دې نیوکو او اعتراضونو د هغه وخت پر حکومت څه اغېز شیندلی شو او که نه؟ په دې باب دومره ویل کېدی شي، چې څه ډېر ښکاره او ژور اغېز یې ځکه نه شو شیندلی، چې دا ټولنه خپله هم د دولت له خوا جوړه شوې وه، خو د یوې حقوقي سرچینې او ټولنې په توګه او یا دا چې د ګڼ شمېر حقوقپوهانو د یو مرکز په توګه یې اړتیا زیاته محسوسه وه، د څه ناڅه

[1] د افغانستان کالنی، کابل، ۱۳۶۲ل کال، ګڼه، ۲۳۸-۲۳۹ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجرايي ځواک له درلودلو سره سره يې مانيز او حقوقي ځواک هم درلود.

ټولنې تر ۱۳۷۱ کال وروسته خپل تشکيلات وساتل، خو پر دې وخت يې هېڅ ډول اغېز پاتې نه و، ځکه چې په هېواد کې هېڅ ډول حقوقي نظام ټينګ نه و، د دې ټولنې دفتر هم په کابل ښار کې ځو ځايو ته کډه وکړه او غړي يې هم اکثره خواره واره شول، زيات شمېر يې بهرنيو هېوادونو ته لاړل، تر ۱۳۷۵ کال وروسته نه د دې ټولنې د جوړښت او نه يې د اغېز پته ولګېده.

## ۴- د ليکوالو ټولنه:

د افغانستان د ليکوالو ټولنه د ۱۳۵۹ کال د تلې پر ۱۲مه نېټه په کابل ښار کې جوړه شوه. ټولنه د يوې ټګلارې او ځانګړو تشکيلاتو لرونکې وه، چې لاندې برخې يې درلودلې:

ـ د ځوانو ليکوالو انجمن، د بين المللي اړيکو څانګه، د تشکيلاتو څانګه، د پښتونخوا د ادبياتو څانګه، د کره کتنې څانګه، د داستان څانګه، د شعر څانګه.

ټولنې د خپل فعاليت په بهير کې تر ۱۴۵ عنوانو زيات علمي، ادبي او هنري کتابونه چاپ کړل، د ((ژوندون)) په نوم يې په دوو (پښتو او دري) په جلا جلا ډول ځانګړې ادبي، خبرنيزه مجله خپروله او هم يې د قلم په نوم يوه جريده درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مرکز کې يې د غړو شمېر سلګونو ليکوالو ته رسېده، دغه راز يې په ځينو ولايتونو کې د ټولنې ولايتي څانګې پرانيستې. د ځوانانو ادبي انجمن د کابل ښار په بېلابېلو لېسو او تعليمي مرکزونو کې خپلې څانګې جوړې کړې وې چې د دوی شمېر هم سلګونو تنو ته رسېده. د ليکوالو انجمن يوه مرکزي شورا لرله.

د ليکوالو ټولنې تر ۱۳۷۱ل کال پورې د ګڼو کتابونو ترڅنګ په لسګونو لويې او وړې غونډې، مشاعرې او سيمينارونه جوړ کړي دي. پر ۱۳۷۱ل کال د ليکوالو پر انجمن هم ستر ناورين راغی، کتابتون او د کتاب ساتنې ځايونه لوټ شول او ګڼ شمېر غړي يې نورو هېوادونو ته مهاجر شول. ټولنې تر ۱۳۷۱-۱۳۷۵ کال پورې يوازې د ژوندون مجلې ۲ ګڼې او د قلم جريدې څو ګڼې خپرې کړای شوې، يو څو ادبي غونډې يې جوړې کړې، د پخوانيو غړو کمښت او د پانګې نشتوالي، ټولنه ورځ پر ورځ کمزورې کړه تر ۱۳۷۵ کال وروسته د ټولنې پخوانی تشکيل له منځه يووړل شو او پرځای يې په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې د شعر او ادب امريت په نامه يوه کوچنۍ نوې اداره جوړه شوه، دې ادارې په تشکيل کې يو تن د امر، يو تن د شعر، يو تن د کيسې او يو تن د کره کتنې، يو تن د ځوانو ليکوالو لپاره په پام کې نيول شوي وو، يو تن د جريدې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدیر په حیث او یو تن د چاپ د امر په توګه په تشکیل کې نیول شوي وو. یانې ټول تشکیل یې په دې ډول دی:

((۱- رسمي مسلکي کارکوونکي ۷ تنه، شته کارکوونکي ۵ تنه.
۲- رسمي اداري کارکوونکي ۳ تنه، شته کارکوونکي ۲ تنه.
۳- مسلکي اجیر کارکوونکي ۴ تنه، شته کارکوونکي ۱ تن.
۴- نا مسلکي اجیر کارکوونکي ۵ تنه، شته کارکوونکي ۴تنه.))[1]

اوسنۍ اداره کې د غړو لیکوالو شمېر په رسمي ډول ثبت شوی نه دی، که د شعر او ادب اوسنۍ اداره د لیکوالو ټولنې له پخواني جوړښت سره پرتله کړو، نو په تشکیلاتي جوړښت کې په سلو کې تقریباً (۸۰) او په خپرنۍ برخه کې په سلو کې سل کموالی ښیي.

[1] د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب اداري یو راپور، کابل، ۱۳۷۸ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کابل پوهنتون

کابل پوهنتون د هېواد تر ټولو ستر علمي مرکز دی، چې د خپل جوړښت له پیله یې تر دې وخته پورې هېواد ته ګڼ شمېر علمي او مسلکي کادرونه وړاندې کړي دي. له ۱۳۱۱ل کال څخه تر ۱۳۶۲ل کال پورې، کابل پوهنتون په ټولیزه ډول ۴۰ زره فارغان ټولنې ته وړاندې کړي دي. لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه، په بېلابېلو پړاوونو کې پر کابل پوهنتون سختې نادودې او تیارې راغلې او په سوونو استادان یې زنداني شوي، وژل شوي، له دندو ګوښه شوي او یا مهاجرت ته اړ شوي دي. تر ۱۳۷۱ل کال وروسته، چې پر کابل پوهنتون کوم ناورین راغی، هغه نو د پوهنتون په ټول تاریخ کې بې ساری دی.

د پوهنتون مرکزي کتابتون، یو موزیم، یوه ګالري او د څوارلس ګونو پوهنځیو کتابتونونه له منځه لاړل، نه یوازې د پوهنتون استادان فرار او مهاجرت ته اړ شول، بلکې خپله پوهنتون هم د کابل ښار و بېلابېلو سیمو ته مهاجر شو، په یوه ځای کې به یې لا دمه جوړه کړې نه وه، چې بل ځای ته به لېږد ته اړ شو. د همدې اړو دوړ په نتیجه کې د کابل پوهنتون ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

استادان له پوهنتون سره بې ارتباطه شول. د جګړو په ترخ کې د پوهنتون څو تنه استادان د خپل ژوند له نعمت نه هم بې برخې شول. پوهنتون په ډېر چټک ډول استادان له لاسه ورکړل، د استادانو د وتلو هغه بهیر، چې له تېرې لسیزې څخه پیل شوی و، په دې لسیزه کې لوړ کچ ته ورسېد. په ځانګړي ډول د هغو استادانو د مهاجرت شمېره خورا زیاته ده، چې په بهرنیو هېوادونو کې یې لوړې زده کړې کړې وې. د غمیزې تر پیل دمخه، کابل پوهنتون د نړۍ د یو شمېر هېوادونو له معتبرو پوهنتونونو سره اړیکې درلودل او د کابل پوهنتون اکثره استادان د ماسترۍ او دوکتورا لپاره هغو هېوادونو ته تلل او تر خپلو زده کړو وروسته بېرته راستنېدل. تر ۱۳۵۷ل کال وروسته دا بهیر څه ناڅه ټکنی شو، خو بیا هم په شپېتمو کلونو کې یو شمېر هغو هېوادونو ته د استادانو د لېږنې بهیر دوام درلود، چې د وخت له دولت سره یې اړیکې ښه وو. تر ۱۳۷۱ل کال وروسته د دنیا له ټولو پوهنتونو سره د کابل پوهنتون اړیکې پرې شول. پخواني استادان او یا هغه استادان، چې په بهرنیو هېوادونو کې یې لوړې زده کړې کړې وې، شمېر یې ورځ پر ورځ په کمېدو شو، نوي روزل شوي کادرونه نه د کمیت او نه هم د پوهې د څرنګوالي له پلوه دومره وو، چې د پخوانیو او تلونکو استادانو ځای ډک کړي. له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

امله په راوروسته کلونو کې د پوهنتون اصلي تشکیل، چې **۷۵۰** تنه استادان ګڼل کېدل، هېڅوخت هم پوره نه شو، ان چې نیمايي ته يې هم شمېر ونه رسېده.

له **۱۳۷۱**ل څخه تر **۱۳۷۵**ل پورې د پوهنتون د ټولو استادانو شمېر (په دې پړاو کې له نويو کادرونو سره سره) تر **۳۰۰** تنو څخه لوړ نه شو. تر **۱۳۷۵**ل کال وروسته، سره له دې چې بيا هم يو شمېر نوي استادان جذب شول، خو د انفکاک او مهاجرت له امله دا شمېر **۲۲۰** تنو ته راټيټ شو، په دې ټولو کړکېچونو او ستونزمنو شرايطو کې، کابل پوهنتون خپل ډېر تکړه استادان له لاسه ورکړل، چې عمومي شمېر يې سوونو ته رسېږي. په شپېتمو کلونو کې بيا هم په کابل پوهنتون کې د پخوانيو استادانو شمېر زيات و. دې استادانو اکثرو په بهرنيو هېوادونو، په ځانګړي ډول په لويديزو هېوادونو کې لوړې زده کړې کړې وې. د ساري په توګه په **۱۳۲۲-۱۳۲۳** کلونه په پام کې ونيسو، پر دې وخت د پوهنځيو په ترتيب د استادانو څومره والی او د رتبې څرنګوالی په لاندې ډول دی:

| پوهنځی | لیسانس | ماستر | داکتر | پوهاند | پوهنوال | پوهندوی | پوهنمل | پوهنیار | پوهیالی | بهرني استادان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حقوق | ۱۸ | ۷ | ۲ | ۰ | ۰ | ۴ | ۳ | ۳ | ۱۷ | ۳ |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| طبیعي علوم | ۲۲ | ۲۴ | ۱۲ | ۴ | ۱۰ | ۱۰ | ۸ | ۶ | ۲۰ | ۴ |
| ژبې اوادبیات | ۷۶ | ۳۵ | ۱۰ | ۵ | ۵ | ۱۳ | ۱۷ | ۱۹ | ۶۲ | ۲۴ |
| شرعیات | ۹ | ۱۰ | ۰ | ۲ | ۴ | ۱ | ۳ | ۳ | ۶ | ۰ |
| انجنیري | | ۱۴ | ۴ | ۰ | ۳ | ۵ | ۸ | ۵ | ۱۰ | ۰ |
| زراعت | ۱۱ | ۲۵ | ۸ | ۹ | ۳ | ۱۳ | ۸ | ۲ | ۹ | ۲ |
| اقتصاد | ۱۰ | ۸ | ۸ | ۳ | ۲ | ۶ | ۴ | ۴ | ۷ | ۱۲ |
| فارمسي | ۱۶ | ۰ | ۱۱ | ۳ | ۶ | ۲ | ۲ | ۳ | ۱۱ | ۰ |
| وترنري | ۱۴ | ۱۰ | ۷ | ۱ | ۲ | ۳ | ۳ | ۸ | ۱۴ | ۴ |
| اجتماعي علوم | ۲۸ | ۱۱ | ۵ | ۵ | ۵ | ۵ | ۸ | ۵ | ۲۳ | ۹ |
| تعلیم وتربیه | ۵ | ۱۵ | ۴ | ۱ | ۱ | ۸ | ۵ | ۷ | ۴ | ۲ |
| ځمکپوهنه | ۱۱ | ۱۲ | ۴ | ۳ | ۲ | ۷ | ۷ | ۳ | ۱۰ | ۰[1] |

ددغو استادانو له جملې څخه ډېر کم شمېر یې په خپل طبیعي مرګ او یا هم د تقاعد له امله پوهنتون څخه وتلي دي. هغه شمېر استادان چې لویدیزو هېوادونو کې یې لوړې زده کړې کړې وې، د هغوی په سلو کې ۹۰ د وخت په تېرېدو او د فرصت په موندلو سره، لویدیزو هېوادو ته پناه وړې ده.

هغو استادانو، چې په پخواني شوروي او یا هم د کمونیستي بلاک په ځینو نورو هېوادونو کې یې زده کړې

---

[1] د کابل پوهنتون کتلاک، ۱۳۶۲-۱۳۶۳ل کال، ۱۲۴مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې وې د هغوی زیاته برخه هم یا همغو هېوادو ، یا هم د هغو له لارې لوېدیزې نړۍ او یا هم نورو هېوادونو ته پناه وړې ده.

ـ هغه استادان چې په پورتني لیست کې پر ۱۳۶۳ل کال، په پوهنتون کې پر تدریس بوخت وو ، د یوې لسیزې په ترڅ کې یې په سلو کې ۹۰ تنو کابل پوهنتون پرېښود. همداسې که په بېلابېلو پړاوونو کې وګورو ، وژنې، نیونې، ترور، جبري انفکاک او نور په پام کې ونیول شي، نو په دوو لسیزو کې کابل پوهنتون د ټولو تلف شویو ، مهاجر شویو استادانو شمېر له ۵۰۰-۷۰۰ تنو پورې اټکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان د علومو اکاډمۍ

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د هېواد د ستر څېړنیز او علمي مرکز په توګه د خپل تاسیس له وخته تر ۱۳۷۱ل کال پورې د یادونې وړ علمي او فرهنګي خدمت کړی دی. پر دې کلونو په علومو اکاډمۍ کې په سوونو پوهانو او څېړونکو ګڼې علمي پروژې څېړلي او په سوونو عنوانه کتابونه یې چاپ کړي دي. دعلومو اکاډمۍ پر ۱۳۵۹ل کال ۲۱۰ تنه علمي غړي درلودل. د وخت په تېرېدو سره لکه د نورو علمي مرکزونو په څېر دعلومو اکاډمۍ ضایعات په وروستیو لسیزو کې زیات وو. د اکاډمۍ کارکوونکو د یوې اټکلیزې احصائیې له مخې وایي، چې په کادري برخه کې اکاډمۍ له ۱۳۵۸-۱۳۶۵ل کال پورې په سلو کې دوه، له ۱۳۶۵-۱۳۷۱ پورې په سلو کې اته، له ۱۳۷۱-۱۳۷۵ پورې په سلو کې ۳۵ تنه علمي غړي له لاسه ورکړي دي. دا غړي په دې پړاوونو کې یا مهاجر شوي او یا هم له دندې ګوښه شوي دي. تر ۱۳۷۵ل کال وروسته په یو ځایي ډول د اکاډمۍ ۲۴ تنه علمي غړي منفک شوي دي. د ۱۳۷۸ل کال په پیل کې په مجموعي ډول د علومو اکاډمۍ کې ۱۰۰ تنه غړي پاتې وو. په دې موده کې د علومو اکاډمۍ څو تنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکاډمیسنان، کاندید اکاډمیسنان، تر **۱۵** تنو زیات ډاکتران، ګڼ ماستران او په لسګونو لیسانسه، چې بېلابېلې علمي رتبې یې درلودلې، مهاجر شوي، تلف شوي او یا له دندو ګوښه شوي دي.

په دې موده کې یوازې د علومو اکاډمي د ټولنیزو علومو مرکز **۵۸** تنه خپل علمي کادرونه او څېړونکي له لاسه ورکړي دي. د ژبو او ادبیاتو مرکز او همدارنګه د پښتو څېړنو نړیوال مرکز هم، تر **۵۲** تنو څخه زیات کادرونه له لاسه ورکړي دي. په همدې اندول د علومو اکاډمۍ نورو څانګو لکه د لرغونپوهنې مرکز، د ځمکپوهنې مرکز، د اسلامي علومو معاونیت هم، خپل ګڼ شمېر کادرونه او څېړونکي له لاسه ورکړي دي. د یادونې وړ ده، چې هر کله نوي پړاو د زاړه پړاو ځای نیولی، نو له علومو اکاډمۍ څخه یو شمېر علمي کادرونه تللي دي، پرځای یې ورو ورو نور کادرونه مقرر شوي دي. که چېرې په تېرو شلو کلونو کې د علومو اکاډمۍ د ټولو ضایع شویو او مهاجر شویو علمي کادرونو او څېړونکو شمېر په پام کې ونیول شي، نو اټکلیز شمېر به یې **۵۰۰** تنو ته نږدې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله او څو وړاندیزونه

لکه څنګه چې د مخه مو، په بېلا بېلو پړاوونو کې له هېواد څخه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل وڅېړل او همدارنګه مو په هېواد کې له اصلي دندو څخه د مسلکي کادرونو د لرې کېدو او د دندو پر پرېښودلو خبرې وکړې او هم مو د هغوی د ژوندانه ځینې ستونزې وڅېړلې، دغسې له هېواده بهر هم ډېر تحصیل کړي افغانان د ژوند او کار له سختو ستونزو سره مخامخ شوي دي. هر کله چې هر مسلکي شخص له هېواد څخه وتلی، نو په بل هېواد کې تر هرڅه لومړی، د ژوند له ستونزو سره مخامخ شوی دی.

پر دې وخت دې شخص ایله دومره فکر کولای شو، چې څنګه خپل ژوند له وژونکو ستونزو او ګوانښونو څخه وژغوري. د مسلک او یا هم د مسلکي کار خبره خو ځکه ورسره دومره نه مطرح کېده، چې د ده مسلکي زده کړې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې ټولنې د اړتیا لپاره وي، نه د نورو ټولنو لپاره. تر هغو پورې، چې دوی د نورو ټولنو د قانوني اتباعو په توګه منل کېدل او بیا د دوی د مسلک ارزونه کېدله، دې کې نو ډېر وخت تېرېده، د مسلکي کادر او د هغه د مسلک ترمنځ ډېر زیات ذهني واټن رامنځته کېده. ډېرو کمو مسلکي اشخاصو په پاکستان، ایران او ځینو نورو هېوادونو کې په هغو خیریه موسسو کې، چې د افغانستان او افغانانو لپاره یې کار کاوه، خپل مسلکي او یا هم مسلک ته نږدې کارونه پیدا کړل. ځینو په همدې موسسو کې د خپل مسلک مخالف او مغایر کار هم له دې کبله مانه، چې ژوند یې له ورپېښو خطرونو څخه خوندي شي. د ژوند له ستونزو پرته تحصیل کړي افغانان د هجرت په چاپېریال کې له فکري، سیاسي او نورو ستونزو سره هم مخ وو. دا ستونزې په پاکستان او ایران کې تر نورو زیاتې محسوسې وې. په دې هېوادونو کې په تحصیل کړو افغانانو د ژوند ساحه ډېره تنګه وه، ان دا چې د دوی ژوند یې له سختو خطرونو او ګواښونو سره مخ کړی و. ځینو افغان پوهانو، چې د سیاسي، فکري او نورې بې عدالتۍ او د ګاونډیو د ناوړه نیتونو پر وړاندې څه غبرګون ښوده، نو د واکمنو او د هغو د اغېزمنو سیاسي او پوځي ډلو له خوا په چټکۍ سره وژل کېدل. د بښنې نړیوال سازمان د یو ګزارش له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې په تېرو څو کلونو کې یوازې په پاکستان کې ۲۱ تنه افغان پوهان او تحصیل کړي اشخاص ترور شوي دي. پوهاند دوکتور بهاءالدین مجروح، دوکتور نسیم لودین، عزیزالرحمن الفت او نور يې څرګند بېلګې دي. همدغه چار او لامل تحصیل کړي افغانان له هجرت نه بل هجرت ته مجبور کړل. ډېر افغانان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خواره شول، هر چا چې هر هېواد ته پناه یوړه، نو خپل اصل مسلک ترې پاتې شو، هلته يې له سره نوی ژوند پیل کړ او د نوي کار او مسلک په لټه کې شول. په پرمختللو هېوادو کې ډېر کم شمېر هغو افغانانو له خپل مسلک سره سمه دنده پیدا کړه، چې په همغو هېوادونو کې يې لوړې زده کړې ترسره کړې وې. لنډه دا چې، بېلابېل عوامل د دې سبب شول، چې ډېر تحصیل کړي افغانان لومړی د خپل هېواد پرېښودو ته اړ شول او بیا په نورو ټولنو کې د خپل مسلک پرېښودو ته. اوس په هېواد کې د پخوا په انډول د لوستو کسانو شمېره ډېره راټیټه شوې ده.

د تحصیل کړو افغانانو شمېر خو بېخي ډېر راټیټ شوی دی. اوس په افغانستان کې د مسلکي کادرونو د نشتوالي او کموالي یوه لویه خلا احساسېږي، له کادري پلوه د ټولنې د اړتیا پوره کول به یوه هغه لویه ستونزه وي، چې راتلونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومتونـه بـه ورسـره مـخ وي، خـو د هېـواد د دې کـادري ضـايعې ترخنګ يـوه د خوشالۍ خبره داده، چې د جګړې پـه بهير کې چې کوم افغانان بهرنيو هېوادونو تـه لاړل، د هغـوی د ځوان پښت يوې برخې او نوي نسل پـه همغـو ټولنو کې پـر زده کړو پيل وکړ. د دې زده کړو ستندرډ او معيـار تـر هغـو زده کړو هم پورته و، چې پر دې تېرو کلوو پـه جګړه ځپلي افغانسـتان کې روانې وې. افغانانو پـه دې ټولنو کې د وخت نوي او عصري علـوم زده کـړل او پـه بېلابېلـو علمـي څـانګو کـې يـې ځانونـه ورسول، دا چې دا افغانان به بېرته خپل هېواد ته ستانه شي او کـه نـه؟ هغـه اساسـي پوښـتنه ده، چـې سـړی ورتـه د شـک او ګومـان پـه سـترګه کـتلای شي او د افغـاني ټـولنې د ژونـد پـه ښېرازۍ او د چارو پـه سمون پورې تړلې ګڼل کېدی شي.

ځينې هغه افغانان، پـه ځانګړي ډول تحصيل کړي اشخاص، چې د نړۍ پـه بېلابېلو هېوادونـو کـې استوګن شوي او د عمر زياته برخه يې پـه خپـل هېـواد کـې تېره کړې ده، هغـوی سره لـه دې، چې پـه هغـو ټولنـو کـې د ژونـد د نـورو اړتيـاوو لـه پلـوه سوکاله او بسيا دي، خو له رواني او ذهني پلوه خپـل هېـواد او ټـولنې پسـې ډېـر ځـوربږي. د دې ډول اشخاصـو لپـاره کـه پـه هېـواد کـې يـو څه د تـنفس ساحه برابره شي، نـو زيـات امکـان شـته، چـې بېرتـه خپـل هېـواد تـه راوګرځـي، خـو د دې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحصیل کړو اشخاصو په باب باید وویل شي، چې دوی د ژوند او خپلو علمي تجربو یو اوږد پړاو تېر کړی او ازمویلی دی، دوی ته د فزیکي او ذهني کار ډېر کم وس او ځواک پاتې دی، دا کسان که خپل هېواد ته بېرته راهم شي، نو دوی به یوازې له رواني پلوه خپل ځانونه ډاډمن کړي، خو هېواد ته به ډېر کار ونه کړای شي. بل اټکل دا هم دی چې په نورو ټولنو کې د دوی د ژوند د هوساینې اقتصادي کچه تر هغه وخته هم زیاته اوچته شوه، چې دوی پخوا په خپله ټولنه کې درلوده، دا امکان هم لرې ښکاري، چې افغاني ټولنه دې له اقتصادي پلوه د دوی په عمر کې هغه کچ او معیار ته ور رسېږي، نو کېدی شي د اقتصادي کچې د ټیټوالي او د رواني ډاډ په یوه حایله فضا کې ژوند وکړي، د دې ټولو ستونزو د یادونې ترڅنګ اصلي خبره همغه د دوی د عمر خبره ده، چې د دوی عمر نور څو مره اټکلېدی شي او انسان په څومره عمر کې د څومره کار کولو جوګه وي؟

دویمه ډله هغه افغانان دي، چې د خپل عمر په نیمایي برخه کې یې هېواد پرې ایښی دی. ځینو یې لوړ تحصیل کړی او له ځینو نیمګړی پاتې شوی، دا ډول اشخاص هم کېدی شي له خپل ولس او هېواد سره خپله مینه وپالي او د حالاتو په رغون او سمون سره بېرته راتګ ته لېواله شي، خو دوی به هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسانۍ سره د هغو ټولنو نورمال او متمدن ژوند ، چې اوس په
کې اوسېږي، یوازې د خپل احساس قرباني نه کړي او ژر به
هېواد ته ستانه نه شي، یوازې احساس نه شي کولای د ژوند
چارې خړوبې کړي، تر هغه چې د ژوند رغنده توکي، د افغاني
ټولنې ژوند سوکاله او هوسا نه کړي. ولولې، احساس او
شعارونه به ډېر کار ورنه کړای شي.

دویمې ډلې ته له دې امله د راتګ هیله کېدی شي، چې دوی
لا د عمر په نیمایي وا ټن کې دي. که چېرې په دې ترڅ کې لوی
خدای(ج) زموږ پر ولس د رحمت باران وورويږ او د سوکالۍ
پرښتې په خپلو وزرونو زموږ ولس ته مینه او سوکاله ژوند
ډالۍ کړي، نو بیا د دې اټکل کېدی شي، چې یو شمېر تللي
افغانان بېرته خپل هېواد ته راستانه شي.

دریمه ډله هغه افغانان دي ، چې د ژوند لږه برخه یې په
افغانستان کې تېره کړې او زیاته برخه یې په نورو هېوادونو
کې، د دې ډول افغانانو ملي احساس او ولوله د پورتنیو دوو
ډلو په انډول لږ شان کمزوري ځکه برېښي، چې دوی د همغو
ټولنو رنګ اخیستی او اخلي یې، زده کړې، کلتور، عادتونه
او نور یې ضرور د همغو ټولنو اغېز زغمي. له خپلو افغان
کورنیو سره د ژوند ، تماس او اړیکو له امله به په کې یو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغاني ځانګړنې هم را وټوکېږي، خو نه د بشپړو افغانانو په شان.

په حقيقت کې د دې درې وارو کټګوريو افغانانو د ټګ له امله افغاني ټولنې زيات زيان زغملی دی. د دې زيانونو ترڅنګ د دې اشخاصو ټګ زموږ ټولنې ته يو څه ګټې هم رسولې او رسوي يې او د نورو ګټو اټکل هم کېدی شي.

هغه افغانان چې بهرنيو او پرمختلليو هېوادونو ته تللي او اقتصادي ژوند يې د افغانستان په اندول ډېر ښېرازه دی، هلته د کار او استوګنې له کبله زياتې پيسې ترلاسه کوي، دا پيسې نه يوازې د خپل ژوند د خړوبولو لپاره لګوي، بلکې يوه ياد وړ برخه يې دلته خپلو کورنيو، خپلوانو او دوستانو ته هم رالېږي او په دې ډول د دوی د ژوند د ستونزو په اوارۍ کې برخه اخلي.

افغانان هره مياشت له لويديزو هېوادونو څخه په اټکليز ډول په مليونونو ډالره رالېږي، چې په پېښور او د افغانستان کې پرې د ژوند چارې سمبالېږي. دژوند د چارو ترڅنګ په بهر کې مېشته افغانانو په علمي برخه کې هم زيات خدمتونه او هڅې ترسره کړي او تر سره کوي يې. دوی نه يوازې د پوهې او عصري علومو په نويو څانګو کې زده کړې کوي، بلکې دعلمي، ادبي او تاريخي کتابونو پر ليکلو او چاپ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصـروف دي. دغـه راز دهېـواد د نـورو پوهـانو اوليکوالـو د اثارو په چاپ کې هم زياته ونډه اخلي. کـه يـوازې پـه وروسـتيو پنځـو کلونـو کـې د علمـي، ادبي او تـاريخي کتـابونو د چـاپ بهير ته پام وکړو، نو په دې ترخ کې د همدغو لويديځ مېشـتو افغانانو په مالي مرستو او هڅو پـه سـلګونو عنوانـه کتابونـه، چې د چاپ شمېر يې لکونو ټوکو ته رسېږي، چاپ شوي دي. د اټکـل لـه مخـې دا تـر ۱۳۷۱ل کـال وروسـته د افغانسـتان د جنجاليزو حکومتونو د ټول فرهنګـي کـار څو برابره کـار ګنل کېږي، يانې بهر مېشـتو افغانـانو د خپـل هېـواد فرهنـګ تـه تـر وروستيو حکومتونو سـلګونو ځلـه زيـات ګټور کـار کړی دی. که د حکومتونو له خوا د هېواد کلتور ته د ور اړول شوي زيـان جـاج پـه پـام کـې ونيسـو، نـو بيـا خـو د بهرمېشـتو ګټور او د زورواکانو زيان رسوونکی کار هېڅ سره پرتله کېدلای نه شي.

دا افغانان هلته له نړيوال تمدن او پرمختـګ سره زيـات بلـد شول او اوس عملاً خپله هم په کې برخه اخلي، نـو کـه چېـرې يـو ملي حکومت جوړ شي او ټولنه د سوکالۍ پـر لـوري روانـه شـي او د دوی د راتګ امکانات برابر شـي، نـو دا بـه د افغانسـتان د يو ريزرف کادر په توګه کـار وکـړي. اوس دا پوښتنه رامنځتـه کېږي چې ايا د دې امکانات به پيدا شي، چې دا افغانـان بېرتـه خپل هېواد ته راستانه شي؟ دا امکانـات بـه کـوم او پـه څـه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي؟ په دې باب سړی ويلای شي، چې که چېرې په افغانستان کې په رښتيا هم يو ملي او مترقي حکومت جوړ شي، چې اصلي موخه او هدف يې يوازې او يوازې د هېواد پرمختيا او د خلکو هوساينه وي، نو بيا خو کېدی شي، د هرې ستونزې حل ولټول شي. ملي حکومت بايد تر هر څه د مخه ستونزه تشخيص او بيا يې د علاج په لټه کې شي.

که چېرې يو حکومت وغواړي، چې دا افغانان بېرته خپل هېواد ته ستانه شي، نو تر هر څه د مخه بايد يوه سالمه ذهني فضا رامنځته کړي، فکري اختناق، سياسي زورواکي او نورې ربړې، چې د ټولنې د لوستي قشر د فرار سبب شوي، له منځه يوسي.

مسلکي او علمي معيار په پام کې ونيول شي (کار د کار اهل) ته خبره عملي شي، پوهنيز کار خپل مادي ملاتړ ترلاسه کړي او مانيز ارزښتونه بېرته پرځای شي. هغه افغانان، چې په نورو هېوادونو کې اوسېږي، هغو ته د افغانستان د نورو خلکو په شان د هېواد د برخليک په ټاکلو کې برخه ورکړل شي او هغوی په هېوادنيو چارو کې برخمن وګڼل شي. دا کار به له خپل هېواد سره د هغوی په دايمي ذهني پيوستون کې لا مرسته وکړي او د لرې والي احساس به يې له منځه لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهر مېشته افغانانو ته د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې شي، دوی وهڅول شي چې له خپلې خوښې سره سم، د هېواد په اقتصادي او فرهنګي رغونه کې برخه واخلي. هغو افغانانو، چې په بهر کې یې لوړې زده کړې کړي، د نویو عصري علومو په برکت کولای شي، چې د هېواد په فرهنګي او اقتصادي رغونه کې کارنده ونډه واخلي. هغه ذهني ستونزې او دېوالونه، چې پخوا د ټولنې د بېلابېلو قشرونو ترمنځ رامنځته شوي وو، هغه باید له منځه لاړ شي، یوه د مینې او صمیمیت فضا رامنځته شي.

هغه افغانان چې د بهرنیو هېوادونو تابعیت یې منلی، خپل هېواد کې باید ورته د موقتي او یا دایمي استوګنې په برخه کې اسانتیاوې رامنځته شي.

که ملي حکومت له هغو هېوادونو سره، چې افغانان په کې مېشته دي، داسې یوه مفاهمه وکړای شي، چې کوم مادي امتیاز چې دغه هېوادونه یې اوس افغانانو ته ورکوي، که دا هغوی ته، افغانستان ته د بېرته ستنېدنې په حالت کې هم ورکړي، نو دا کار به هم د ځینو هېوادوالو په راستنېدنه کې اغېزناک واقع شي.

ورځ پر ورځ تخنیکي پرمختګونه زیاتېږي، ملي حکومت کولای شي، د نویو تخنیکي وسایلو په واسطه په بهر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېشته افغانانو سره خپل تماس ټينګ کړي او له دې لارې د هغو راتګ او يا هم د مرستو د جلبولو زمينه برابره کړي.

ملي حکومت کولای شي، د افغانستان د سفارتونو لارې په هغو هېوادو کې، له مېشتو افغانانو سره همېشنی تماس ټينګ کړي، کلتوري غونډې جوړې او نورې ملي هڅې وکړي، دا به له خپل هېواد سره د هغو افغانانو په رواني پيوستون کې ډېره مرسته وکړي او د بېرته راستنېدو روحيه به په کې پياوړې کړي او داسې يو لړ نورې لارې چارې.

خو اوسمهال د دې ډول يادونو عملي کېدل ناشوني ښکاري، د ملي حکومت جوړېدو هيله لا ډېره ګړندۍ او ځلنده نه ښکاري، ټولنيز، اقتصادي او پوځي کړکيچ لا اوس هم دوام لري او اوس هم په زرګونو افغانان، لکه د سېلاب په شان، نورو هېوادونو ته د تلو په حال کې دي، چې ګڼ شمېر يې تحصيل کړي افغانان دي.

که دا لړۍ په همداسې چټکۍ سره دوام ومومي، نو په راتلونکو څو کلونو کې به د يوې ادارې پر سر يو د لوړو زده کړو خاوند هم پاتې نه شي، نو که اوسني حکومتونه د نورو افغانانو د راتللو وس نه لري، نو دومره خو دې وکړي، چې د ولس د ژوند په ټولو برخو کې دې وچ ذهني اختناق ختم او يو څه نرمښت دې راولي، چې هر چاته يو څه د ژوند او تنفس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساحه برابره او پراخه شي او په دې ډول دې بهرته د نورو تلونکو افغانانو مخه ونيول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځونه

۱- حبیب الله رفیع، په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې پیل او پرمختیا، پېښور، ۱۳۷۷ل کال.
۲- شباهنګ، بازسازی نهاد های فرهنګی افغانستان، د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۶ل کال.
۳- ګزیدهٔ شاخصهای احصائیوی، د احصایې وزارت د نشراتو ریاست، کابل، ۱۳۷۰ل کال.
۴- Afghan Refugee Bulletin, UNHCR, Februray, ۱۹۹۹.
۵- حقایق تاریخی و ارقام احصائیوی دربارهٔ کابل، د احصایې مرکزي اداره، ۱۳۶۲ل کال.
۶- د افغانستان کالنۍ، کابل، ۱۳۶۱ل کال.
۷- پوهنمل دوکتور نجیب الله فایز، اجتماعي علوم مجله، کابل پوهنتون، ۱۳۶۸ل کال.
۸- سالنامهٔ احصائیوی، د احصایې وزارت، کابل، ۱۳۶۹ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- پوهنیار محمد نبي فراهي، هیله مجله (۲) گڼه، پېښور، ۱۳۷۶ل کال.
۱۰- ډاکتر محمد اکبر اکبر، هیله مجله (۱) گڼه، پېښور، ۱۳۷۶ل کال.
۱۱- د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت یو گزارش، کابل، ۱۳۷۷ل کال.
۱۲- د افغانستان کالنۍ، کابل، ۱۳۶۲ل کال.
۱۳- پوهاند غونچه گل حبیب ساپی، ننگرهار مجله، ۱۳۷۷ل کال.
۱۴- د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب اداري یو راپور، کابل، ۱۳۷۸ل کال.
۱۵- د کابل پوهنتون کتلاک، کابل، ۱۳۶۲-۱۳۶۳ کلونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د محمد اسمعیل یون لنډه پېژندنه



محمد اسمعیل یون د حاجي محمدخان زوی پر ۱۳۴۲ل کال، د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ دنیازیو په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د الینګار ولسوالۍ د سلینګار په لومړني ښوونځي کې سرته رسولي دي، تر هغه وروسته کابل ته راغی او په خوشال خان لېسه کې شامل شو. پر ۱۳۶۲ل کال له نوموړې لېسې څخه په دویم نومره بریالی او پر ۱۳۶۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې محصل شو. پر ۱۳۷۰ل کال له نوموړې څانګې څخه اول نومره بریالی او پر همدې کال بېرته د پښتو څانګې د کدر غړی شو. پر ۱۳۸۵ل کال په نوموړې څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ماسترۍ دوره پیل شوه، یون په ډېر ښه او بریالي ډول دا دوره پایته ورسوله.

محمد اسمعیل یون له ۱۳۷۰ل کال څخه بیا تر ننه پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي تدریسي غړی او د(پوهندوی) علمي پوړۍ ته رسېدلی دی، پر استادۍ سربېره، استاد یون د ((کابل پوهنتون))، ((هیلې)) او((شمشاد))مجلو د چلوونکي دنده هم په ښه ډول ترسره کړې ده. په پېښور کې د چاپېدونکې ((معارف)) مجلې کتونکی غړی هم و. همدارنګه دیو شمېر نورو چاپي خپرونو همکار هم پاتې شوی دی.

استاد یون پر ۱۳۸۱ل کال، په جلال اباد کې بېړنۍ لویې جرګې ته د ختیزو ولایتونو د انتخاباتو د دفتر مشر شو، د دې جرګې لپاره تر ټاکنو وروسته د جرګې غړی، بیا د جرګې د غړو له خوا د بېړنۍ لویې جرګې دلومړي منشي په توګه انتخاب شو. استاد یون په دې جرګه کې تر خپل وروستي وسه خپل ملي او تاریخي مسولیت ادا کړ او د هېواد دښمنه عناصرو د توطیو مخه یې ونیوله.

تر دې جرګې وروسته، کله چې د افغانستان د اساسي قانون د تدوین بهیر پیل شو، نو استاد یون بیا د دې بهیر لپاره د ختیزو ولایتونو د دارالانشاد دفتر مشر وټاکل شو. په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې لپاره انتخابات هم د همدې دفتر له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا ترسره شول.استاد يون د اساسي قانون د تصويب په لويه جرګه کې د نوموړې جرګې د دارالانشا د غړي په توګه خپل فعال رول ادا کړ. ټاکل شوې وه، استاد يون په ختيزو ولايتونو کې د افغانستان د جمهوري رياست لپاره د عمومي ټاکنو د دفتر مسول شي، خو په کابل کې د لويو جنګسالارانو او ځينو تنظيمي مشرانو له خوا پر حکومت او ملګرو ملتونو د زيات فشار له امله له کاره ګوښه شو.ملګرو ملتونو(UNAMA) استاد يون ته وړانديز وکړ، چې په کابل کې به تر دې لوړه دنده در وسپارو، خو استاد يون و نه منله او خپلې استادۍ ته يې دوام ورکړ.

درې کاله وروسته يې د ځينو ملګرو په زيات ټينګار او غوښتنه، د جمهوري رياست د ملي امنيت شورا په دفتر کې د فرهنګي چارو د رياست دنده ومنله او په کابل پوهنتون کې پر استادۍ سربېره لا تر اوسه دا دنده پر مخ وړي.استاد يون پر ۱۳۸۵ل کال د افغانستان او پاکستان د امن ګډې جرګې لپاره د افغانستان له خوا د منشي په توګه غوره شو او دا دنده يې هم په ښه ډول ترسره کړه.

استاد يون د خپلو اکيډميکو او ليکوال په توګه په تېرو شلو کلونو کې ګڼ شمېر فرهنګي او ټولنيز خدمتونه ترسره کړي، په ګڼو چاپي، راديويي او ټلويزيوني مرکو کې يې د واقعيتونو او حقايقو د څرګندېيان له امله د خلکو په زړونو کې ځای نيولی دی. که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختې مخالفین دي. د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د استاد یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. زه د دې شاهد یم، هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي، منفي غبرګونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع ګټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرګونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو استاد یون په دغسې سختو اغزنو او تنګو شرایطو کې بیا هم خپل فرهنګي، سیاسي او ټولنیز کار ته دوام ورکوي.

دا اوسنی فرهنګي کار، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول ګورئ، دا د تېرو شلو کلونو کارونه دي، چې له تېر یو نیم کال راهیسې پرې په منظم ډول کار شوی، اوډل شوي او دادی ستاسو مخې ته اینبودل کېږي، په داسې یو دولتي دفتر کې چې بوختیاوې په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې وي، د منظم او ستر فرهنګي کار سرته رسول اسانه کار نه دی. استاد يون پر خپلو فرهنګي کارونو سربېره د ګڼو فرهنګي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توګه هم خپل فرهنګي رول ادا کړی، په پېښور کې يې د دوو الماني مېشتو فرهنګي ټولنو (د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې) او (د پښتني فرهنګ د ودې پراختيا ټولنې) د همکار په توګه د بېلابېلو ليکوالو په لسګونو اثار، ايډيټ او چاپ کړي دي. دغه راز يې په سلګونو کورنيو مشاعرو، ادبي غونډو او سيمينارونو کې ونډه اخيستې ده، خپله يې هم په لسګونو مشاعرې، سيمينارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

سربېره پر دې، په يو زيات شمېر، ملي او نړيوالو کنفرانسونو کې يې په ښه ډول د خپل هېواد استازي کړې ده. دلته به يې د اثارو يادونه وکړو:

## اثار

### الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • مټکور | لومړی شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |
| • په اورونو کې سندرې | دويمه شعري ټولګه | دويم ۱۳۸۷ |

### ب- راټولونې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هیلې — ګډه شعري ټولګه — دویم ۱۳۸۷
- نیمګړي ارمانونه — د حیران شعري ټولګه — دویم ۱۳۸۷
- د لوونو فصل — ګډه شعري ټولګه — دویم ۱۳۸۷
- د نازو انا یاد — د سیمینار د لیکنو ټولګه — دویم ۱۳۸۷
- د استاد الفت نثري کلیات — د استاد الفت نثرونه — دریم ۱۳۸۷
- سیندونه هم مري — د اسحق ننګیال شعري منتخبات — دویم ۱۳۸۷

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه
  د پوهنوال روستارتره کي اثر — دویم ۱۳۸۷
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه
  د نینسي دوپرې اثر — دویم ۱۳۸۷
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه
  د پوهنوال روستار تره کی اثر — دویم ۱۳۸۷

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر — د اماراتو یونلیک — دویم ۱۳۸۷
- که یون دی یون دی — د اروپا یونلیک — لومړی ۱۳۸۷
- د پنټاګون ترڅنډو — د امریکا یونلیک — لومړی ۱۳۸۷

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه — دویم ۱۳۸۷
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری — دویم ۱۳۸۷
- د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود — دویم ۱۳۸۷
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه — دویم ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د پښتو شعر هندسي جوړښت — شپږم ۱۳۸۷
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل — دویم ۱۳۸۷
- ساینسي پرمختیاوې — دویم ۱۳۸۷
- ببرړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي — دویم ۱۳۸۷
- اندیال خوشال — لومړی ۱۳۸۷
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې — لومړی ۱۳۸۷
- کلتوري یون — لومړی ۱۳۸۷
- فرهنګي فقر — لومړی ۱۳۸۷
- مرکه او مرکې — لومړی ۱۳۸۷
- خوشال په خپل ایډیال — لومړی ۱۳۸۷
- د کتابونو په وړمو کې — لومړی ۱۳۸۷
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې — لومړی ۱۳۸۷
- پښتو لیکنی سمون — لومړی ۱۳۸۷
- اوسنۍ رسنۍ — لومړی ۱۳۸۷
- که نړیوال ماته وخوري؟ — لومړی ۱۳۸۷

خدای (ج) دې استاد یون ته ډېر عمر ورکړي او جرئت دې ورته هم تاند لري، الله (ج) دې دی له هر ډول بدو بلاوو وژغوري، په فرهنګي کارو زیار کې ورته د نور زغم او وسېلې هیله لرم.

په درناوي

وفاالرحمن وفا

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Causes of Afghan Brain Drain

**By:**

**M. Ismael yoon**

ISBN 978-9936-500-15-0

9 789936 500150 >

د خپرونو لړ: (۱٦)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**